# دافغانستان اسلامی جمهوریت

# دعدليې وزارت

# رسمي جريده

## دافغانستان داسلامي جمهوريت دقضائيه

## قوې د محکمو د تشکيلاتو او واکونو قانون

Ketabton.com

دچاپ نېټه: د ۱۳۸۴ هـ.ش کال د غويي دمياشتې(۳۱)- پرله پسې گڼه (۸۵۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دامتیـــاز خاوند : دعـــدلیې وزارت

مسؤول چلوونکی : عبدالقهار "جـــویا"

مرســــــتیال : نـــور علـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمي جريده

## د افغانستان اسلامي جمهوريت

كڼه : (۳۲۱۷)

نېټه : ۱۳۸۴/۲/۲۱

د عدليې وزير محترم سرور دانش !

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د قضائيه قوې د محكمو د تشكيلاتو او واک قانون چې په (۷) فصلونو او (۷۷) مادو کې د وزيرانو د عالي مجلس لخوا تصويب او د ۱۳۸۴/۲/۲۱ نېټې (۱۴) ګڼې فرمان پر بنسټ زموږ لخوا توشيح شوى دى ، تاسې ته دروا ستول شو چې په رسمي جريده کې يې په خپرولو اقدام وکړئ .

حامد كرزى

د افغانستان داسلامي جمهوريت

رئيس

## جمهورى اسلامى افغانستان

شماره : (۳۲۱۷)

تاريخ : ۱۳۸۴/۲/۲۱

محترم سرور دانش وزير عدليه !

قانون تشكيلات و صلاحيت محاكم قوۀ قضائيه جمهورى اسلامى افغانستان را كه به داخل (۷) فصل و(۷۷) ماده از طرف مجلس عالى وزراء تصويب و از جانب ما به اساس فرمان شماره (۱۴) مؤرخ ۱۳۸۴/۲/۲۱ توشيح گرديده است ، بشما ارسال شد تا به نشر آن در جريدۀ رسمى اقدام نمائيد .

حامد كرزى

رئيس جمهورى اسلامى

افغانستان

# رسمي جريده

د افغانستان د اسلامی جمهوریت د قضائیه قوې د محکمو د تشکیلاتو او واک د قانون د انفاذ په هکله ،د افغانستان د اسلامي جمهوریت د جمهور رئیس

فرمان

ګڼه : (۱۴)

نېټه :۱۳۸۴/۲/۲۱

لومړۍ ماده :

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د قضائیه قوې د محکمو د تشکیلاتو او واک قانون چې په (۷) فصلونو او (۷۷) مادو کې د وزیرانو د عالي مجلس لخوا د ۱۳۸۴/۱/۲۹ نېټې د (۴) ګڼې مصوبې پر بنسټ تصویب شوی دی ، توشیح کوم .

فرمان

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در بارهٔ انفاذ قانون تشکیلات و صلاحیت محاکم قوهٔ قضائیه جمهوری اسلامی افغانستان

شماره : (۱۴)

تاریخ :۱۳۸۴/۲/۲۱

مادهٔ اول :

قانون تشکیلات و صلاحیت محاکم قوهٔ قضائیه جمهوری اسلامی افغانستان را که به اساس مصوبهٔ شماره (۴) مؤرخ ۱۳۸۴/۱/۲۹ از طرف مجلس عالی وزراء به داخل (۷) فصل و (۷۷) ماده تصویب گردیده است توشیح میدارم .



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمي جریده

**دوه یمه ماده :**

دغه فرمان د توشیح له نېټې څخــه نافذ او په رسمي جریده کــې دې خپور شي .

**حامد کرزی**

**دافغانستان د اسلامي جمهوریت**

**رئیس**

**مادهٔ دوم :**

ایــن فرمـــان از تـــاریخ توشـــیح نافـــذ و در جریـــدهٔ رســـمی نشر گردد .

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی**

**افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمي جريده

## فهرست مندرجات

## قانون تشکیلات و صلاحیت محاکم قوهٔ قضائیه

## جمهوری اسلامی افغانستان

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول : | هدف | ۱ |
| مادهٔ دوم: | استقلالیت | ۲ |
| مادهٔ سوم: | صلاحیت رسیدگی | ۲ |
| مادهٔ چهارم: | دایرهٔ صلاحیت | ۲ |
| مادهٔ پنجم : | اعتراض بر فیصله | ۳ |
| مادهٔ ششم: | طرز رسیدگی | ۳ |
| مادهٔ هفتم: | مصدر حکم | ۵ |
| مادهٔ هشتم: | علنیت جلسه | ۵ |
| مادهٔ نهم: | ذکر مواد قانونی درفیصله | ۶ |
| مادهٔ دهم: | واجب التعمیل بودن فیصله ها | ۷ |
| مادهٔ یازدهم: | داشتن وکیل مدافع | ۷ |
| مادهٔ دوازدهم: | داشتن ترجمان | ۷ |
| مادهٔ سیزدهم: | عدم امتناع از اصدار حکم | ۸ |
| مادهٔ چهاردهم: | استقلالیت در اصدار حکم | ۸ |
| مادهٔ پانزدهم: | عدم عضویت در حزب | ۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل دوم

## تشکیل ، ترکیب و صلاحیت ستره محکمه


مادهٔ شانزدهم: ستره محکمه ........................۹

مادهٔ هفدهم : ترکیب ستره محکمه ........................۱۰

مادهٔ هجدهم : دیوان های ستره محکمه ........................۱۰

مادهٔ نزدهم : صلاحیت رئیس دیوان ........................۱۱

مادهٔ بیستم : مستشاران قضایی ........................۱۱

مادهٔ بیست ویکم: تعیین مستشاران قضایی ........................۱۲

مادهٔ بیست ودوم: وظایف مستشاران ........................۱۲

مادهٔ بیست وسوم: آمریت عمومی اداری قوهٔ قضائیه ........................۱۳

مادهٔ بیست وچهارم : وظایف و صلاحیت های قضایی ستره محکمه .....۱۴

مادهٔ بیست وپنجم : جلسات ستره محکمه ........................۱۶

مادهٔ بیست وششم: نقض فیصلهٔ محکمهٔ تحتانی ........................۱۷

مادهٔ بیست وهفتم: ارجاع به سبب بطلان ........................۱۸

مادهٔ بیست وهشتم: وجوب تعمیل احکام و قرار ها........................۲۰

مادهٔ بیست ونهم: وظایف و صلاحیت های اداري ستره محکمه ......۲۰

مادهٔ سی ام : صلاحیت های رئیس ستره محکمه ........................۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل سوم

## تشکیل ، ترکیب و صلاحیت محاکم استیناف


مادهٔ سی ویکم: تشکیل محکمهٔ استیناف ........................ ۲۵

مادهٔ سی و دوم : ترکیب دیوان های محاکم استیناف ................ ۲۶

مادهٔ سی وسوم: رسیدگی فیصله ها و قرار ها ........................ ۲۷

مادهٔ سی و چهارم: رفع اختلافات صلاحیت قضایی .................. ۲۸

مادهٔ سی و پنجم : قطعیت فیصله ها و قرار ها ........................ ۲۸

مادهٔ سی و ششم: وظایف و صلاحیت های رئیس محکمهٔ استیناف.... ۲۹

مادهٔ سی و هفتم: رهبری جلسات ........................ ۳۰

مادهٔ سی و هشتم: مسؤولیت ........................ ۳۰

مادهٔ سی و نهم: شعبات محکمهٔ استیناف ........................ ۳۱


## فصل چهارم

## تشکیل ،ترکیب وصلاحیت محاکم ابتدائیه


مادهٔ چهلم: تشکیل ........................ ۳۱

مادهٔ چهل ویکم: ترکیب محاکم ابتدائیه........................ ۳۲

مادهٔ چهل و دوم: رسیدگی قضایا توسط دیوانهای محاکم ابتدائیه..... ۳۳

مادهٔ چهل و سوم: رهبری محکمه و دیوان ها ........................ ۳۴

مادهٔ چهل و چهارم: محکمهٔ اطفال........................ ۳۵

مادهٔ چهل و پنجم: محکمهٔ ابتدائیه تجارتی ........................ ۳۶

مادهٔ چهل و ششم: رسیدگی به قضایای اختصاصی ........................ ۳۶

مادهٔ چهل و هفتم : ترکیب محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی........................ ۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادهٔ چهل و هشتم : صلاحیت محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی.............. ۳۸
مادهٔ چهل و نهم : توظیف قاضی مؤقت........................... ۳۸
مادهٔ پنجاهم : ایجاد دیوانهای ضروری ........................... ۳۹
مادهٔ پنجاه و یکم : طرز رسیدگی جرایم متعدد......................... ۳۹
مادهٔ پنجاه و دوم : مسؤولیت.................................. ۴۱
مادهٔ پنجاه و سوم : قطعیت فیصله.............................. ۴۱
مادهٔ پنجاه و چهارم : شعبات اداری ............................ ۴۲
مادهٔ پنجاه و پنجم : ادارات ثبت اسناد و وثایق .......................... ۴۲
مادهٔ پنجاه و ششم : ثبت اسناد وعلایم تجارتی ........................ ۴۳
مادهٔ پنجاه و هفتم : ارایه گزارش............................... ۴۴

## فصل پنجم

## امور مربوط به قضات و کارکنان قوه قضائیه

مادهٔ پنجاه و هشتم : شرایط انسلاک قضاء ......................... ۴۴
مادهٔ پنجاه و نهم : سوگند ..................................... ۴۶
مادهٔ شصتم: تقرر و تبدل قضات............................ ۴۷
مادهٔ شصت ویکم: تقرر و تبدل کارکنان اداری ........................ ۴۸
مادهٔ شصت و دوم : تقاعد قضات ............................ ۴۹
مادهٔ شصت و سوم: تبدیلی قضات ............................. ۵۰
مادهٔ شصت چهارم : تقدریر نامه ها ............................. ۵۱
مادهٔ شصت و پنجم : تطبیق احکام قوانین کار و مامورین دولت .......... ۵۲
مادهٔ شصت و ششم : امتیاز مسلکی .............................. ۵۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسمي جريده

## فصل ششم

## مسؤولیت جزائی و تأدیبی قضات


مادهٔ شصت و هفتم : توقیف قاضی ..............................۵۳

مادهٔ شصت و هشتم: تأدیب قضات ..............................۵۴


## فصل هفتم

## احکام متفرقه


مادهٔ شصت و نهم : پذیرش مجدد قاضی مستعفی....................۵۴

مادهٔ هفتادم: لباس قضات . ...........................۵۵

مادهٔ هفتاد ویکم: کارت هویت ..........................۵۵

مادهٔ هفتاد و دوم: داشـــتن مهـــر..............................۵۵

مادهٔ هفتاد و سوم: امنیت قضات ومحـــاکم.........................۵۶

مادهٔ هفتاد و چهارم: معـــــاش ..............................۵۶

مادهٔ هفتاد و پنجم: ثبـــت دارایـــی.............................۵۷

مادهٔ هفتاد و ششم : نـــشریه اختـــصاصی.........................۵۷

مادهٔ هفتاد و هفتم : تاریخ انفاذ.........................۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان د اسلامي جمهوریت د قضائیه قوې د محکمود تشکیلاتو او واک قانون

## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**هدف :**

**لومړی ماده :**

دغه قانون د اساسي قانون د یوسلو شپاړسمې او یوسلو درویشتمې مادې د حکمونو پر بنسټ د افغانستان اسلامي جمهوریت د قضائیه قوې د تشکیل ، د سترې محکمې او د استیناف او ابتدائیه محکمو د دندو او واکونو او د هغو د اړوندو قاضیانو د چارو د تنظیم په منظور وضع شوی دی .

## قانون تشکیلات وصلاحیت محاکم قوهٔ قضائیه جمهوری اسلامی افغانستان

## فصل اول
## احکام عمومی

**هدف:**

**مادهٔ اول:**

این قانون به تأسی از احکام مواد یکصد و شانزدهم و یکصدو بیست وسوم قانون اساسی به منظور تشکیل قوهٔ قضائیه ، تنظیم وظایف و صلاحیت های ستره محکمه و محاکم استیناف و ابتدائیهٔ جمهوری اسلامی افغانستان وامور مربوط به قضات آن وضع گردیده است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلواکي (استقلالیت) :

دوه یمه ماده :

قضائیه قوه د دولت خپلواک رکن دی چې له سترې محکمې ، د استیناف له محکمو او ابتدائیه محکمو څخه مرکبه ده .

ګرځندې (سیارې) محکمې د اړتیا په صورت کې د سترې محکمې په وړاندیز او د جمهور رئیس په منظورۍ جوړیدای شي .

د څېړنې (رسیدګۍ) واک :

دریيمه ماده :

د قضائیه قوې په واک کې د هغو ټولو د عواووڅېړنه شامله ده چې د دولت په شمول د حقیقي یا حکمي اشخاصولخوا د مدعي یا مدعي علیه په توګه د قانون د حکمونو مطابق ، دمحکمې په وړاندې اقامه کېږي .

دواک دایره :

څلورمه ماده :

هېڅ قانون نشي کولای په هېڅ حالت کې یوه قضیه یا ساحه د

استقلالیت:

مادۀ دوم:

قوۀ قضائیه رکن مستقل دولت بوده ، مرکب از ستره محکمه، محاکم استیناف ومحاکم ابتدائیه میباشد.

محاکم سیار در صورت ضرورت به پیشنهاد ستره محکمه و منظوری رئیس جمهور ایجاد شده می تواند .

صلاحیت رسیدگی:

مادۀ سوم:

صلاحیت قوۀ قضائیه شامل رسیدگی به تمام دعا ویست که از طرف اشخاص حقیقی یا حکمی به شمول دولت بحیث مدعی یا مدعی علیه در پیشگاه محکمه مطابق به احکام قانون اقامه می گردد.

دایرۀ صلاحیت :

مادۀ چهارم:

هیچ قانون نمی تواند در هیچ حالت قضیه یا ساحۀ را از دائرۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



قضائيه قوې د واک له دايرې څخه وباسي اوبلې مرجع ته يې وسپاري.
دغه حکم د اساسي قانون په (نهه شپېتمه ، اته اويايمه او يوسلو اووه ويشتمه) ماده کې درج د خاصو محکمواو په اړوندو قضيو کې د عسکري محکمو د تشکيل خنډ نه ګرځي .

پر فيصلې باندې اعتراض:

پنځمه ماده :

د دعواوو اړخونه کولای شي د کښتنۍ محکمې دصادروشوو فيصلو په هکله د قانون د حکمونو مطابق ، د پورتنۍ محکمې په وړاندې اعتراض وکړي. د محکمو قطعي فيصلې لدې حکم څخه مستثني دي .

د څېړنې ډول

شپږمه ماده :

(۱) په محکمو کې د قضيو څېړنه د قضيې د کيفيت او ماهيت له اړخه

صلاحيت قوهٔ قضائيه خارج ساخته وبه مرجع ديگری تفويض نمايد.
اين حکم مانع تشکيل محاکم خاص مندرج مواد( شصت و نهم ، هفتادو هشتم و يکصدو بيست و هفتم )قانون اساسی ومحاکم عسکری در قضايای مربوط به آن نمی گردد.

اعتراض بر فيصله :

مادهٔ پنجم:

طرفين دعاوی ميتوانند در مورد فيصله های صادرهٔ محکمهٔ تحتانی مطابق احکام قانون ، به پيشگاه محکمهٔ فوقانی اعتراض نمايند. فيصله های قطعی محاکم ازين حکم مستثنی است.

طرز رسيدگی:

مادهٔ ششم :

(۱) رسيدگی به قضا يا در محاکم از لحاظ کيفيت و ماهيت قضيه در

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دوه وو (ابتدائي او استينافي) پړاوونو کې صورت مومي .

(۲) ستره محکمه د استيناف له محکمو څخه ور رسېدلې قضيې يوازې د قانون د تطبيقېدو د صحت له اړخه (د نقض يا ابرام په صورت کې) تر څېړنې لاندې نيسي ، خو دا چې په خاص حالت کې د قضيې د څېړنې واک د کيفيت او ماهيت له اړخه هغې ته سپارل شوی وي .

(۳) په محکمو کې قضيې د قاضيانو لخوا په لاندې توګه څېړل کېږي :

۱- په ابتدايي پړ او کې د دريو تنو قاضيانو په ګډون ، خو دا چې د قاضيانو شمېر له دريو تنو څخه لږ وي ، پدې صورت کې د قضيې څېړل له دريو تنو قاضيانو څخه د لږو په واسطه جواز لري .

دو مرحلهٔ (ابتدائی و استینافی) صورت میگیرد .

(۲) ستره محکمه قضایای واصله از محاکم استیناف را صرفاً از نگاه صحت تطبیق قانون ( در صورت نقض یا ابرام) مورد رسیدگی قرار میدهد ، مگر اینکه قانون در حالت خاص صلاحیت رسیدگی قضیه را از لحاظ کیفیت و ماهیت به آن تفویض نموده باشد .

(۳) قضایا در محاکم توسط قضات به ترتیب ذیل رسیدگی میشود :

۱- در مرحلهٔ ابتدائی به اشتراک سه نفر قاضی، مگر اینکه تعداد قضات کمتر از سه نفر باشد، درینصورت رسیدگی قضیه توسط کمتر از سه نفر قاضی جواز دارد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- په استينافي پړاو کې د دريو تنو قاضيانو په واسطه .

۳- په وروستني پړاوکې د سترې محکمې د دوو تنو يا له هغو څخه د زياتو قاضيانو په واسطه .

**د حکم مصدر :**

**اوومه ماده :**

محکمې د قضيو د څېړنې په وخت کې د اساسي قانون او نورو نافذو قوانينو حکمونه تطبيقوي .

په هغهٔ صورت کې چې په قضيه کې قانوني صراحت موجود نه وي ، څېړنه او د حکم صادرول د اساسي قانون په (يو سلو دېرشمه او يوسلو يو دېرشمه ) ماده کې د درج شوو حکمونو مطابق صورت مومي .

**د جلسې علنيت :**

**اتمه ماده :**

د افغانستان په محکمو کې محاکمه په څرګنده (علني) توګه

۲- در مرحلهٔ استينافی توسط سه نفر قاضی.

۳- در مرحلهٔ فرجام توسط دو نفر قاضی ستره محکمه يا بيشتر از آن.

**مصدر حکم:**

**مادهٔ هفتم:**

محاکم حين رسيدگی قضايا، احکام قانون اساسی وسائر قوانين نافذه را تطبيق می نمايند.

در صورتيکه صراحت قانونی در قضيه موجود نباشد، رسيدگی واصدار حکم مطابق به احکام مندرج مواد (يکصد و سی ام و يکصد سی و يکم) قانون اساسی صورت ميگيرد.

**علنيت جلسه:**

**مادهٔ هشتم:**

در محاکم افغانستان ، محاکمه به صورت علنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دايرېږي او هر شخص حق لري د قانون د حکمونو له پمه پام کې نيولو سره په هغې کې حضور ومومي .

محکمه کولای شي په هغو حالاتو کې چې په قانون کې تصريح شوي دي يا د محاکمې سري توب اړين تشخيص شي ، سري جلسې دايرې کړي خو د حکم اعلام په هر حال بايد علني وي .

**په فيصله کې د قانوني موادو ذکر کول :**

**نهمه ماده :**

محکمې مکلفې دي د استناد وړ قانوني موادو په ذکرولو سره د هغۀ حکم دلايل او اسباب چې صادر وي يې، په خپله فيصله کې تصريح کړي .

داير ميگردد و هر شخص حق دارد با رعايت احکام قانون در آن حضور يابد .

محکمه ميتواند در حالاتيکه در قانون تصريح گرديده ، يا سری بودن محاکمه ضروری تشخيص گردد ، جلسات سری داير کند ولی اعلام حکم بايد به هر حال علنی باشد .

**ذکر مواد قانونی در فيصله:**

**مادۀ نهم:**

محاکم مکلف اند دلايل واسباب حکمی را که صادر می کنند با ذکر مواد قانونی مورد استناد در فيصلۀ خويش تصريح نمايند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د فيصلو واجب التعميل والی :**

**لسمه ماده :**

**د محكمو قطعي فيصلې واجب-التعميل دي،خو دشخص په مرګ د حكم په حالت كې چې د جمهور رئيس له منظورۍ وروسته تطبيقيږي.**

**د مدافع وكيل لرل :**

**يوولسمه ماده :**

**هر شخص كولای شي له نيونې سره سم ، د تور د دفع كولو يا د حق د اثبات لپاره ، شخصاً اقدام وكړي او يا مدافع وكيل وټاكي. په جنائي قضيو كې د نېستمنواشخاصو لپاره د اړوند تقنيني سند مطابق ، مدافع وكيل ټاكل كېږي.**

**د ژباړونكي لرل:**

**دوولسمه ماده :**

**كه چېرې د دعوي لوری ، په هغه رسمي ژبه چې محاكمه په هغې صورت مومي ، ونه پوهېږي، د قضيې په موادو او سندونو باندې**

**واجب التعميل بودن فيصله ها :**

**مادۀ دهم:**

**فيصله های قطعی محاكم واجب-التعميل است،مگر در حالت حكم بمرگ شخص كه بعداز منظوری رئيس جمهور تطبيق ميگردد.**

**داشتن وكيل مدافع:**

**مادۀ يازدهم:**

**هر شخص ميتواند برای دفع اتهام به مجرد گرفتاری و يا اثبات حق خود وكيل مدافع تعيين كند . در قضايای جنائی برای اشخاص بی بضاعت طبق سند تقنينی مربوط وكيل مدافع تعيين می شود.**

**داشتن ترجمان:**

**مادۀ دوازدهم:**

**هرگاه طرف دعوی، لسان رسمی را كه محاكمه توسط آن صورت می گيرد ، نداند، حق اطلاع به مواد و اسناد قضيه و**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خبرتیا او په محکمه کې په مورنۍ ژبه د ترجمان په واسطه د خبروکولو حق ورته تأمینېږي .

**د حکم له صادرولو څخه ډډه نه کول :**

**دیارلسمه ماده :**

محکمه نشي کولای د هغې قضیې په هکله چې تر څېړنې لاندې یې نیولې ده ، د حکم له صادرولو څخه ډډه وکړي . تر څېړنې لاندې قضیه د تصمیم له نیولو د مخه له محکمې څخه ایستل کېدای نشي .

**د حکم په صادرولو کې خپلواکي :**

**څوارلسمه ماده :**

محکمې د قضیو د څېړنې په وخت کې خپلواکې دي او د حکم په صادرولو کې یوازې د قانون تابع دي .

د محکمو په واسطه څېړنه او دحکم صادرول د قانون او محکمې په

صحبت در محکمه به زبان مادری توسط ترجمان برایش تأمین می گردد.

**عدم امتناع از اصدار حکم:**

**مادۀ سیزدهم:**

محکمه نمی تواند دربارۀ قضیه ای که آنرا مورد رسیدگی قرار داده است ، از اصدار حکم امتناع ورزد . قضیۀ تحت بررسی قبل از اتخاذ تصمیم از محکمه خارج ساخته شده نمی تواند.

**استقلالیت در اصدار حکم:**

**مادۀ چهاردهم:**

محاکم حین رسیدگی به قضایا مستقل بوده و درصدور احکام صرف تابع قانون می باشند.

رسیدگی واصدار حکم توسط محاکم براساس اصل تساوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړانـــدې د اړخونـــو د تـــساوۍ د اصل پر بنسټ او د عـــدالت او ناپلوۍ په پام کې نيولو سره صورت مومي .

پـه ګوند کې نه غړيتوب :

پنځلسمه ماده :

قاضيان نشي کـــولای د دنـــدې د تصدۍ په موده کې د سياسي ګوند غړيتوب ولري .

## دوه يم فصل

## د سترې محکمې تشکيل ، ترکيب او واک

ستره محکمه :

شپاړسمه ماده :

ستره محکمـــه د هېـــواد د ډېـــر عالي قضايي ارګان پـــه توګـــه ، د افغانستان د اسلامي جمهوريـــت د قضائيه قوې پـــه ســـرکې ځـــای لري .

طـــرفين در برابـــر قـــانون و محکمـــه و رعايـــت عـــدالت و بـــی طرفـــی صـــورت می گيرد.

عدم عضويت درحزب:

مادۀ پانزدهم :

قضات نمی توانند درمدت تصدی وظيفه عضويت حزب سياســـی را داشته باشند.

## فصل دوم

## تشکيل ، ترکيب وصلاحيت ستره محکمه

ستره محکمه:

مادۀ شانزدهم :

ســـتره محکمـــه بـــه حيـــث عـــالی تـــرين ارگـــان قـــضائی کـــشور در رأس قـــوۀ قـــضائيه جمهوری اسلامی افغانستان قـــرار دارد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د سترې محکمې ترکيب :**

**اوولسمه ماده :**

ستره محکمه له نهو غـړو څخـه جوړه ده چې د اساسي قانون په يو سلو اووه لسمه او يـو سـلو اتلسمه ماده کـې د درج شـوو حکمونوله په پام کې نيولو سره ، د ولسي جرګې په تاييد ، د جمهـور رئيس لخوا ټاکل کېږي .

جمهور رئيس له غړو څخه يوېې ، د سترې محکمې د رئيس په توګـه ټاکي .

**د سترې محکمې دېوانونه :**

**اتلسمه ماده :**

(۱) ستره محکمه له لاندې دېوانونو څخه جوړه ده :

۱- د عمومي جزاء دېوان .

۲-د عامه امنيت دېوان.

۳- د مـدني او عامـه حقوقـو دېوان .

۴- سوداګريز(تجارتي) دېوان .

(۲) د دې مـادې په (۱) فـقره

**ترکيب ستره محکمه:**

**مادهٔ هفدهم :**

ستره محکمه مرکب از نه عـضو بوده که بـا نظرداشـت احکـام مندرج مواد يک صد و هفـدهم و يـک صـد و هجـدهم قـانون اساسی از طرف رئيس جمهور بـه تائيـد ولـسی جرگـه تعيـين می گردند.

رئيس جمهور يکی از اعـضاء را بحيث رئيس ستره محکمه تعيـين می نمايد.

**ديوان های ستره محکمه:**

**مادهٔ هجدهم :**

(۱) سـتره محکمـه متـشکل از ديوانهای ذيل ميباشد:

۱- ديوان جزای عمومی .

۲- ديوان امنيت عامه.

۳- ديـوان مـدنی و حقـوق عامه .

۴- ديوان تجارتی .

(۲) رياست هريک از ديـوانهای

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د درج شوو دېوانونو د هر يوۀ رياست د سترې محکمې له غړو څخه يو چې د سترې محکمې د رئيس په ټاکنه د يوۀ کال لپاره په وارسره ټاکل کېږي ، په غاړه اخلي .

د دېوان د رئيس واک :

نولسمه ماده :

د سترې محکمې د دېوانونو رئيسان د لاندې واکونو او دندو لرونکي دي :

۱- د اړوند دېوان د فعاليت لارښوونه .

۲- د اړوند دېوان د غونډو جوړول او د هغو رياست کول .

۳-داړوندودېوانونودچاروتنظيمول او د قضايي تجربو توحيدول او سترې محکمې ته درپوټ ورکول .

قضائي مستشاران :

شلمه ماده :

ستره محکمه د قضايي مستشارانو لرونکې ده چې ټول شمېرې له

مندرج فقرۀ (۱) این ماده را یکی از اعضای ستره محکمه که بالنوبه به انتخاب رئیس ستره محکمه برای مدت یک سال تعیین می شود، به عهده می گیرد.

صلاحیت رئیس دیوان:

مادۀ نزدهم:

رؤسای دیوان های ستره محکمه دارای صلاحیت ها و وظایف ذیل می باشند :

۱-رهبری فعالیت دیوان مربوط.

۲- تدویر جلسات دیوان مربوط و ریاست از آن.

۳- تنظیم امور و توحید تجارب قضائی دیوان های مربوط و ارائه گزارش به ستره محکمه.

مستشاران قضائی :

مادۀ بیستم :

ستره محکمه دارای مشتشاران قضائی میباشد که تعداد مجموعی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږدېرشــو تنوڅخــه زیاتېــدای نشي .

د قضايي مستشارانو ټاکل :

يو ويشتمه ماده :

د سترې محکمې قضايي مستشاران د هغو قاضيانو له منځ څخه ټاکــل کېږي چې د بشپړ اهليت ، کفايت او درايت لرونکي وي او لږترلــږهٔ لس کاله يې بالفعل قضايي خدمت سرته رسولی وي .

په دېوانونو کې د قضايي مستشارانو توظيفول د سترې محکمې د رئيس واک دی .

د مستشارانو دندې :

دوه ويشتمه ماده :

قضايي مستشاران ، ور رســېدلې قضيې تحليل او ارزوي ، رپوټ يې برابر وي او د تصميم نيولو لپاره يې قــضايي غونــډې تــه وړانــدې کوي .

آنها از سی و شش نفر بیشتر بوده نمی تواند.

تعیین مستشاران قضائی:

مادهٔ بیست و یکم:

مستشاران قضائی ستره محکمه از میان قضاتی تعیین می گردند کــه دارای اهلیت، کفایت و درایــت کامل بوده و حد اقل ده سال طور بالفعل خدمت قضائی را انجام داده باشند .

توظیف مستشاران قضائی در دیوان ها از صلاحیت رئیس ستره محکمه می باشد.

وظایف مستشاران :

مادهٔ بیست و دوم:

مستــشاران قــضائی ، قــضایای وارده را تحلیــــل و ارزیــــابی نمــوده ، گــزارش آنــرا تهیــه و غرض اتخاذ تصمیم بــه جلــسهٔ قضائی ارائه می نماید .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قضائیه قوې عمـــومي اداري آمریت :

**درویشتمه ماده :**

(۱) قضایي قوه د اجرایي او قضایي چارو دښه تنظیم په منظور،د عمومي اداري آمریت لرونکې ده چې په سر کې یې عمومي آمر ځای لري .

(۲) عمومي اداري آمر د ســترې محکمې د رئیس په وړانـــدیز او د جمهور رئیس په منظـــورۍ ټاکـــل کېږي .

عمومي اداري آمر په عین حال کې د سترې محکمې منشي او ویندوی دی اودلاندې اوصافو لرونکی وي:

۱- د تقرر په وخت کې یې سن له دېرشو کلونو څخه لږ نه وي .

۲- د عالي تحصیلاتو لرونکی وي او په اداره کې کافي تجربه ولري.

۳- د ښه سیرت او نېک شـــهرت لرونکی وي .

۴- د محکمې لخوا د بشري ضد او جنایت جرمونو په ارتکاب یا له

## آمریت عمـــومی اداری قـــوۀ قضائیه:

**مادۀ بیست و سوم :**

(۱) قوۀ قضائیه به منظور تنظیم بهتر امور اجرائـــی و قـــضائی ، دارای آمریت عمومی اداری بوده کـــه در رأس آن آمر عمومی قرار دارد.

(۲) آمــــر عمــــومی اداری بـــه پیشنهاد رئیس ســـتره محکمـــه و منظوری رئـــیس جمهـــور تعیـــین میگردد .

آمر عمومی اداری در عـــین حـــال منشی وسخنگوی ستره محکمـــه بوده ودارای اوصاف ذیل می باشد:

۱- سن وی حین تقرر از سی سال کمتر نباشد.

۲- دارای تحصیلات عالی بوده و در اداره تجربۀ کافی داشته باشد.

۳- دارای حسن سیرت وشـــهرت نیک باشد.

۴- از طرف محکمه به ارتکـــاب جرایم ضد بشری و جنایـــت یـــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدني حقوقو څخه په حرمان نه وي محکوم شوی .

(۳) ستره محکمه د مسلکي او اداري څانګو لرونکې ده چې د قضائيه قوې د عمومي اداري آمريت په چوکاټ کې فعاليت کوي . د سترې محکمې د مسلکي او اداري څانګو تشکيل او د فعاليت ډول د جلا مقررو مطابق تنظيمېږي .

(۴)عمومي اداري آمريت کولای شي عندالضرورت دسترې محکمې د تائيداو دجمهور رئيس له منظورۍ وروسته نورې څانګې جوړې کړي.

## د سترې محکمې قضائي دندې او واکونه :

### څلېريشتمه ماده :

ستره محکمه د قوانينو د تفسير او قضائي چارو په ساحه کې د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده :

۱- د قانون مطابق د حکومت يا محکمو د غوښتنې پر اساس ، له اساسي قانون سره د قوانينو ، تقنيني

حرمان از حقوق مدنی محکوم نشده باشد.

(۳) ستره محکمه دارای شعبات مسلکی واداری میباشد که در چوکات آمریت عمومی اداری قوۀ قضائیه فعالیت می نمایند. تشکیل و طرز فعالیت شعبات مسلکی و اداری ستره محکمه طبق مقرره های جداگانه تنظیم می گردد.

(۴) آمریت عمومی اداری می تواند عندالضرورت شعبات دیگری را بعد از تائید ستره محکمه و منظوری رئیس جمهور ایجاد نماید.

## وظایف و صلاحیت های قضائی ستره محکمه :

### مادۀ بیست و چهارم :

ستره محکمه در ساحۀ تفسیر قوانین و امور قضائی دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشد :

۱- بررسی مطابقت قوانین ، فرامین تقنینی و معاهدات بین الدول و میثاق های بین المللی با قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمانونو ، بين الدول معاهــدو او نړيوالو ميثاقونو د مطابقت څېړل او د هغو تفسيرول .

۲- د حکومت له لارې ملي شوري ته د قضايي چارو د تنظيم په ساحه کې د قانون د طرحې وړانديز .

۳- په اړوندو قوانينو کې د اټکــل شويو احوالــو مطــابق ، د لــوی څارنوال يا د دعــوي د لــوري د اعتراض پر بنسټ ، د نويو دليلونو د پيداکېدو په ســبب د محکمــو پرقطعي فيصلو باندې نوې کتنه.

۴-د مؤجه دليلونو د موجوديت په حال کې،دلوی څارنوال يا د دعوي دلوري دغوښتنې پربنسټ د محکمو د واک د تنازع حل کول او له يوې محکمې څخه بلې محکمې تــه د قضيې د څېړنې د واک سپارل .

۵- د قانون د حکمونو مطــابق ، بهرني دولت ته د مجرمينو د بېرته ورکړې(اعادې)په هکله د دليلونــو څېړنه او د تصميم نيول .

اساسی و تفسير آنها بــر اســاس تقاضای حکومت يا محاکم طبــق قانون .

۲- پيشنهاد طرح قانون در ساحۀ تنظيم امور قضائی به شورای ملی از طريق حکومت .

۳- تجديد نظر بر فيــصله هــای محاکم به سبب ظهــور دلايــل جديد بر اســاس اعتــراض لــوی څارنوال يا طرف دعــوی ، طبــق احوال پيشبينی شــده در قــوانين مربوط .

۴- حل تنازع صلاحيت محاکم و تفويض صلاحيت رسيدگی قضيه از يک محکمه بــه محکمــۀ ديگــر براساس تقاضای لوی څــــارنوال يا طرف دعوی در حال موجوديت دلايل مؤجه.

۵- بررســـی دلايــل واتخـــاذ تصميم در مورد اعادۀ مجرمين بــه دولت خارجی مطابق بــه احکــام قانون.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦- د اساسي قانون د اته ویشتمې مادې د حکم له په پام کې نیولــو سره بهرني دولت ته د هېواد د تبعه د تسلیمولو په هکله د تورد دلیلونو څېړنه او د تصمیم نیول .

۷- د قضائی تګلارې (رویــې) د وحدت تأمینول .

۸- د قاضیانو د جنائي او انتظامي سرغړونو په هکله د تصمیم نیول .

۹- په قضایي چارو کې د محکمو د استهداء ګانو څېړل او ورتــه د ځواب ورکول .

د سترې محکمې غونډې :

پنځه ویشتمه ماده :

(۱) ستره محکمه په هرو پنځلسو ورځوکې ،عادي غونډه دایروي.

د سترې محکمــې فــوق العــاده غونډې، د سترې محکمې د رئیس په غــوښتنه د لــوی څارنوال پــه وړاندیز یا د هغې د غړو د یوهٔ ثلث د غوښتنې پربنسټ دایرېدلی شي .

٦- بررسی دلایل اتهــام واتخــاذ تصمیم در مورد تسلیم دهی تبعــهٔ کشور به دولت خارجی با رعایت حکم مادهٔ بیست و هشتم قــانون اساسی.

۷- تــاٴمین وحــدت رویــه قضائی .

۸- اتخاذ تصمیم در مورد تخلفات جنائی و انتظامی قضات .

۹- بررسی استهداآت محــاکم در امــور قــضائی و ارائــه جــواب به آن .

جلسات ستره محکمه :

مادهٔ بیست و پنجم :

(۱) ستره محکمه در هر پانزده روز جلسهٔ عادی را دایر می نماید.

جلسات فوق العادهٔ ستره محکمــه بر اساس تقاضای رئــیس ســتره محکمه ، پیشنهاد لوی څارنوال یا مطالبهٔ یک ثلث اعضای آن دایــر شده می تواند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) د سترې محکمې د غونډو د دايرېدو نصاب د هغې د غړو د دوو ثلثوپه حضور بشپړېږي.تصميمونه په غونډه کې د حاضرو غړو د رأيو په اکثريت نيول کېږي خوداچې په دې قانون کې بل ډول اټکل شوي وي .

(۳) لوی څارنوال او د هغهٔ په غياب کې هغه مرستيال چې ورته واک ورکړل شوی دی ، د جزايي موضوعګانو په اړه د سترې محکمې په غونډو کې ګډون کوي .

(۴) د دې قانون د څلېريشتمې مادې د(۱،۲ ،۳ ،۴ ،۵ ،٦ او۸) اجزاوو په درج شوو مواردو کې تصميمونه ، د سترې محکمې د غړو د دوو ثلثو په بشپړ اکثريت سره نيول کېږي .

د کښتنۍ محکمې د فيصلې نقضول :

شپږ ويشتمه ماده :

(۱) که چېرې د سترې محکمې ديوان د اعتراض وړ فيصلې د

(۲) نصاب جلسات ستره محکمه با حضور دو ثلث اعضای آن تکميل می گردد ، تصاميم به اکثريت آرای اعضای حاضر در جلسه اتخاذ ميگرددمگراينکه دراين قانون طوری ديگری پيشبينی گرديده باشد .

(۳) لوی څارنوال و در غياب وی معاون که به وی تفويض صلاحيت شده است ، به ارتباط موضوعات جزائی در جلسات ستره محکمه اشتراک می نمايد.

(۴) در موارد مندرج اجزای (۱،۲،۳، ۴،۵،٦ و ۸) مادهٔ بيست و چهارم اين قانون ، تصاميم به اکثريت دو ثلث کامل اعضای ستره محکمه اتخاذ می گردد.

نقض فيصلهٔ محکمهٔ تحتانی:

مادهٔ بيست و ششم:

(۱) هرگاه ديوان ستره محکمه حين رسيدگی فيصله مورد

(c) ketabton.com: The Digital Library



خېړنې په وخت کې وومي چې د لاندېنۍ محکمې فيصله له قانون سره په مخالفت يا د هغۀ په تطبيق يا تأويل کې له خطاء يا د اسلامي شريعت له حکمونو سره په مخالفت کې صادره شوې ده، فيصله نقضوي او د حکم د صادرولو لپاره يې لاندېنۍ محکمې ته راجع کوي .

د سترې محکمې دېوان کولای شي په فيصله کې د نقض د مواردو په کتنې سره ، اگر که د معترض په اعتراض کې په هغو تصريح شوې نه وي ، هم هغه نقض کړي .

(۲) که چېرې خطاء د قانون په تطبيق کې يا خطا د هغۀ په تاويل کې د فيصلې په پايله کې اغېزمنه نه وي او حکم اساساً صحيح او له قانون سره موافق وي ، اړوند دېوان کولای شي هغه تائيد کړي .

د بطلان په سبب ارجاع :

اووه ويشتمه ماده :

(۱) که چېرې د سترې محکمې

اعتراض دريابد که فيصلۀ محکمۀ تحتانی در مخالفت با قانون يا خطا در تطبيق يا تأويل آن صادر گرديده، فيصله را نقض و غرض صدور حکم به محکمۀ تحتانی ارجاع ميدارد .

ديوان ستره محکمه می تواند درصورت ملاحظۀ موارد نقض در فيصله ، گرچه در اعتراض معترض به آن تصريح نشده باشد نيز آنرا نقض نمايد.

(۲) در صورتيکه خطا در تطبيق قانون يا خطا در تأويل آن در نتيجۀ فيصله مؤثر نبوده وحکم اساساً صحيح وموافق قانون باشد ، ديوان مربوط می تواند آنرا تائيد نمايد.

ارجاع به سبب بطلان:

مادۀ بيست و هفتم :

(۱) هرگاه ديوان ستره محکمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېوان د اعتراض وړ فیصله ، په حکم کې د بطلان یا په حکم کې د اغېزمنو اساسي اجراآتو د بطلان په سبب نقض کړي ، قضیه د هغې د دلیلونو په صریح ذکرکولو سره ، اړوندې محکمې ته ارجاع کوي ، لومړۍ محکمې ته د قضیې د ارجاع په حالت کې ، د حکم صادرول د هغو قاضیانو په واسطه چې اکثریت ئې غیر له لومړنیو قاضیانو څخه وي ، صورت مومي .

(۲) که چېرې د هغې محکمې پر صادر شوي حکم باندې چې دعوي ورته راجع شوې ده، دوه یم ځل اعتراض صورت و مومي او اعتراض د هماغو علتونو او اسبابو پر بناء وي او مرجوع الیه محکمه پخوانی حکم چې د سترې محکمې په دېوان کې نقض شوی و ، په هماغو لومړنیو دلیلونو باندې حکم کړی وي ، موضوع تر غور او څېړنې لاندې نیسي ، په هغهٔ صورت کې چې د اعتراض وړ حکم د سترې محکمې لخوا د رأیو په

فیصلهٔ مورد اعتراض را به سبب بطلان در حکم یا بطلان در اجراآت اساسی مؤثر در حکم، نقض نماید، قضیه را با ذکر صریح دلایل آن به محکمهٔ مربوط ارجاع میدارد، در حالت ارجاع قضیه به محکمهٔ اولی، صدورحکم توسط قضاتی که اکثریت غیراز قضات اولی باشند، صورت میگیرد.

(۲) هرگاه برحکم صادره ازمحکمهٔ که دعوی به آن ارجاع شده ، بار دوم اعتراض صورت بگیرد واعتراض برمبنای همان علل واسباب باشد ومحکمهٔ مرجوع الیه حکم قبلی را که در دیوان ستره محکمه نقض گردیده بود، با همان دلایل اولی حکم نموده باشد ، ستره محکمه موضوع را تحت غور ورسیدگی قرار میدهد، در صورتیکه حکم مورد اعتراض به اکثریت آراء از طرف ستره محکمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اكثريت سره نقض شي ، څېړنه او د حكم صادرول د هغې محكمې پــه واسطه صورت مومي چې منقوضه حكم د نومو‌ړي هيئت لخوا ورتــه راجع شوى دى ، په دې صــورت كې مرجوع اليه محكمه د ســترې محكمې د لارښودي قرار په پام كې نيولو مكلفه ده او د هغې صــادره حكم قطعي دى .

**د حكمونو او قرارونو د تعميل وجوب :**

**اته ويشتمه ماده :**

پر ښكتنيو محكمو باندې د قضيو د بيا څېړنې پــه هكلــه د پورتنيــو (فوقــاني) محكمــو حكمونــه او قرارونه واجب التعميل دي .

**د سترې محكمې اداري دندې او واكونه :**

**نهه ويشتمه ماده :**

(۱) ستره محكمه په اړوندو اداري چارو كې د لاندې دندو او واكونو لرونكې ده :

نقض گردد، رســيدگى و اصــدار حكم توســط محكمــهٔ صــورت مى گيرد كه حكم منقوضه از طرف ستره محكمه به آن ارجاع شــده است ، در اين صــورت محكمــهٔ مرجوع اليه مكلف بــه رعايــت مفاد قرار رهنمودى ستره محكمــه بوده و حكم صــادرهٔ آن قطعــى ميباشد.

**وجــوب تعميــل احكــام و قرار ها :**

**مادهٔ بيست و هشتم :**

احكام وقرار هاى محاكم فوقــانى در مورد رسيدگى مجدد قضايا بــر محاكم تحتانى واجــب التعميــل ميباشد.

**وظايف و صلاحيت هاى ادارى ستره محكمه:**

**مادهٔ بيست و نهم :**

(۱) ستره محكمه در امــور ادارى مربوطه داراى وظايف وصــلاحيت هاى آتى مى باشد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د حکومت په سلا د قضائیه قوې د بودجې برابرول .

۲- د محکمو د ادارو د فعالیتونو لارښودنه او ورڅخه څارنه .

۳- د محکمو د قضایي او اداري چارو د تنظیم په منظور د مقررو او لوایحو وضع کول .

۴- د قضایي چارو د تدقیق او مطالعاتو د پایلې څېړنه او د محکمو د نیمګړتیاوو د لرې کولو او د اجراآتو د توحید او سمون په منظور د تدبیرونو نیول .

۵- د دې قانون د حکمونو مطابق، دجمهوري ریاست مقام ته دقاضیانو او مستشارانود ټاکنې وړاندیز .

۶- د دې قانون د حکمونو مطابق، د قاضیانو د تقرر ، تبدل ، ترفیع ، د خدمت د تمدید او دتقاعد وړاندیز .

۷- د جمهوری ریاست مقام ته د محکمو او د سندونو او وثیقو د ثبت د ادارو د جوړولو (تأسیس) او

۱-ترتیب بودجۀ قوۀ قضائیه به مشورۀ حکومت.

۲-رهبری ومراقبت از فعالیت های ادارات محاکم.

۳-وضع مقرره ها ولوایح به منظور تنظیم امور قضائی واداری محاکم.

۴-بررسی نتیجۀ تدقیق و مطالعات امور قضایی و اتخاذ تدابیر به منظور رفع نواقص وتوحید وانسجام اجراآت محاکم.

۵-پیشنهاد تعیین قضات و مستشاران به مقام ریاست جمهوری مطابق به احکام این قانون .

۶-پیشنهاد تقرر ، تبدل ، ترفیع ، تمدید خدمت و تقاعد قضات مطابق احکام این قانون .

۷- پیشنهاد تأسیس محاکم و ادارات ثبت اسناد و وثایق و تعیین صلاحیت های قضائی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغو د قضايي او اداري واک د ټاکلو وړانديز .

۸- د قضائيه قوې د بودجې تطبيقول .

۹-د محکمو دفعاليت د پرمخ بيولو په منظور،د لازمو اسانتياوو تأمينول.

۱۰- د قضايي ستاژ د کورس دايرول او په هغهٔ پورې د اړوندو چارو تنظيمول .

۱۱- د قاضيانو د پوهې او تجربو د سطحې د لوړولو لپاره د مقتضي تدبيرونو نيول .

۱۲- د قضائيه قوې د نورو اداري کارکوونکو له اجراآتو او فعاليتونو څخه څارنه .

۱۳- د کلنۍ احصائيې او په قضايي برخه کې د ټولو محکمو له فعاليتونو څخه د رپوټ برابرول .

۱۴- نورې هغه دندې او واکونه چې په دې قانون او نورو قوانينو کې سترې محکمې ته سپارل شوي دي .

اداری آنها بمقام رياست جمهوری.

۸-تطبيق بودجهٔ قوهٔ قضائيه.

۹-تأمين تسهيلات لازم به منظور پيشبرد فعاليت محاکم.

۱۰- تدوير کورس ستاژ قضائی وتنظيم امور مربوط به آن.

۱۱-اتخاذ تدابير مقتضی برای ارتقاء سطح دانش و تجارب قضات.

۱۲-نظارت از اجراآت و فعاليت های ساير کارکنان اداری قوهٔ قضائيه .

۱۳-تهيهٔ احصائيهٔ سالانه و گزارش از فعاليت های تمام محاکم در بخش قضائی .

۱۴-ساير وظايف و صلاحيتهای که درين قانون وقوانين ديگر به ستره محکمه تفويض گرديده است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) د دې مادې په (۱) فقره کــې درج شوي واکونه ، د قضائیه قوې د عمومي اداري آمریت لــه لارې اعمالېږي .

**د سترې محکمــې د رئــیس واکونه :**

**دېرشمه ماده :**

د سترې محکمې رئیس د افغانستان د اسلامي جمهوریت د قضائیه قوې ممثل او د لاندې واکونو لرونکــی دی :

۱- د سترې محکمې د قضايي او اداري فعالیتونو عمومي لاربښودنه .

۲- د سترې محکمــې د غونډو ریاست .

۳- عندالاقتضاء د سترې محکمې د اړوندو دیوانونو د قضايي غونډو ریاست .

۴- د محکمو د فعالیتونو د پلټنې په اړه د امر صادرول .

۵- د قاضیانو د جرمونو او دهغو

(۲) صلاحیت های مندرج فقــرهٔ (۱) این ماده از طریــق آمریــت عمومی اداری قوهٔ قضائیه اعــمال میگردد .

**صلاحیت های رئــیس ســتره محکمه:**

**مادهٔ سی ام:**

رئیس ستره محکمه ممثــل قــوهٔ قضائیهٔ جمهوری اسلامی افغانستان بوده، دارای صــلاحیتهای ذیــل میباشد:

۱- رهبری عمــومی فعالیتهــای قضائی واداری ستره محکمه.

۲- ریاست از جلــسات ســتره محکمه.

۳-عندالاقتضاء ریاست جلــسات قضائی دیوانهای مربــوط ســتره محکمه.

۴- اصدار امر مبنی بــر تفتــیش فعالیت های محاکم.

۵- اصدار امر مبنی بر رســیدگی

(c) ketabton.com: The Digital Library



له قضايي او اداري سرغړونو څخه د راپيدا شوو قضيو د څېړنې په اړه د امر صادرول .

۶- د محکمو د قطعي فيصلو پر تطبيق باندې څارنه .

۷- د قضائيه قوې د بودجې له سالم تطبيق څخه څارنه او مراقبت .

۸- د ناروغۍ ، رخصتۍ ، غيابت او نورو علتونو په حالت کې د سترې محکمې يوۀ غړي ته د خپلو ټولو يا يوې برخې واکونو سپارل .

۹- د قضائيه قوې د عمومي اداري آمريت پر فعاليت باندې څارنه .

۱۰- جمهور رئيس ته د قضائيه قوې د قضايي او اداري اجراآتو د رپوټ وړاندې کول .

۱۱- د جمهوري رياست مقام ته د قاضيانودمحاکماتي اوتأديبي مجازاتو د عفوې او تخفيف وړانديز .

۱۲-ددې قانون او نورو قوانينو د

قضا يای ناشی از جرايم و تخلفات قضائی واداری قضات.

۶- نظارت بر تطبيق فيصله های قطعی محاکم.

۷- نظارت و مراقبت از تطبيق سالم بودجۀ قوۀ قضائيه.

۸- تفويض تمام يابرخی از صلاحيتهای خود در حالت مريضی، رخصتی، غيابت وساير علل به يکی ازاعضای ستره محکمه.

۹- نظارت بر فعاليت آمريت عمومی اداری قوۀ قضائيه.

۱۰- ارائه گزارش اجراآت قضائی واداری قوۀ قضائيه به رئيس جمهور.

۱۱- پيشنهاد عفو و تخفيف مجازات محاکماتی وتأديبی قضات به مقام رياست جمهوری.

۱۲- ساير صلاحيت های مفوضه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمونو مطابق نور ورسپارل شوي واکونه .

## دريېم فصل

## د استيناف محکمو تشکيل، ترکيب او واک

د استيناف محکمې تشکيل:

يو دېرشمه ماده :

(۱) د استيناف محکمه د هېواد د هر ولايت په سطح د دې قـانون د حکمونو مطابق جوړېږي .

(۲) د استيناف محکمه له رئيس ، مرستيال ، د دېوانونو له رئيسانو او قضايي غړو څخه مرکبه ده .

د استيناف محکمې رئيس د هغـو قاضيانو له منځ څخه ټاکل کېـږي چې د بشپړ اهليـت ، تجربـې او درايت لرونکي وي .

(۳) د عمومي جزاء د دېوان رئيس

بر طبق احکام اين قانون و قـوانين ديگر.

## فصل سوم

## تشکيل ، ترکيب وصلاحيت محاکم استيناف

تشکيل محکمۀ استيناف :

مادۀ سی و يکم:

(۱) محکمۀ استيناف در سطح هر ولايت کشور طبق احکام اين قانون ايجاد ميگردد.

(۲) محکمۀ استيناف مرکـب از رئيس ، رؤسای ديوانها واعـضای قضائی ميباشد.

رئيس محکمۀ اسـتيناف از ميـان قضاتی تعيين می گردد کـه دارای اهليت، تجربـه ودرايـت کامـل باشد.

(۳) رئيس ديوان جزای عمومی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استيناف د محكمې د رياست مرستيال دی .

**د استيناف محكمو د دېوانونو تركيب :**

دوه دېرشمه ماده :

(۱) د استيناف محكمې د لاندې دېوانونو لرونكې دي :

۱- د عمومي جزاء دېوان .

۲- د عامه امنيت دېوان .

۳- د مدني او شخصيه احوالو دېوان .

۴- د عامه حقوقو دېوان .

۵- سوداګريز (تجارتي) دېوان .

٦- د كوچنيانو دېوان .

(۲) د استيناف محكمې په هر دېوان كې د قضايي غړو شمېر له شپږو تنو څخه نشي زياتېدای .

(۳) ترافيكي قضيې د استيناف د عمومي جزاء دېوان څېړي .

(۴) ستره محكمه كولای شي د جمهور رئيس له منظوری

معاون رياست محكمۀ استيناف ميباشد.

**تركيب ديوان های محاكم استيناف:**

مادۀ سی و دوم:

(۱) محاكم استيناف دارای ديوان های آتی ميباشد:

۱- ديوان جزای عمومی.

۲- ديوان امنيت عامه.

۳- ديوان مدنی واحوال شخصيه.

۴- ديوان حقوق عامه.

۵- ديوان تجارتی.

٦- ديوان اطفال .

(۲) تعداد اعضای قضائی در هر ديوان محكمۀ استيناف ازشش نفر بيشتر بوده نميتواند.

(۳)قضايای ترافيكی را ديوان جزای عمومی استيناف رسيدگی مينمايد.

(۴) ستره محكمه می تواند عندالضرورت ديوان های ديگری را

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د استيناف محكمـو پـه چوكاټ كې عندالـضرورت نـور دېوانونه جوړ كړي .

<u>د فيصلو او قرارونو څېړل :</u>

دري دېرشمه ماده :

(۱)د استيناف محكمه د ښـكتنيو محكمو فيصلې او قرارونه چې تـر اعتراض لاندې راغلي وي ، په هغو احوالو اوترتيب سره چـې پـدې قانون اونورو قوانينو كې تـصريح شويدي ، په استينافي پـړاو كـې څېړي .

(۲) د استيناف محكمه د دې مادې په (۱) فقره كې د درج شوو قضيو د څېړنې په وخت كې د دعوي ټول حالات او كوايف تر بيـاغوروني لاندې نيسي ، د ښكتنيو محكمـو فيصلې او قرارونه كولای شـي د قانون د حكمونو مطابق تصحيح ، نقض ، تعديل ، تائيـد يـا لغـوه كړي .

در چوكات محاكم استيناف بعداز منظوری رئـيس جمهـور ايجـاد نمايد.

<u>رسيدگی فيصله ها و قرارها :</u>

مادۀ سی و سوم :

(۱) محكمۀ استيناف فيـصله هـا وقرار های محاكم تحتانی را كـه مورد اعتراض قـرار گرفتـه ، در احوال وترتيبی كه دراين قـانون و قوانين مربوط تـصريح گرديـده، در مرحلـۀ اسـتينافی رسـيدگی می نمايد.

(۲) محكمـۀ اسـتيناف حـين رسـيدگی قـضايای منـدرج فقرۀ (۱) اين ماده ، تمام حـالات وكوايـف دعـوی را مجـدداً تحت غور قرار داده ، فيصله هـا وقـرار هـای محـاكم تحتـانی را می تواند طبق احكـام قـانون تصحيح، نقض، تعديل، تائيد يا لغو نمايد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قضايي واک د اختلافونو لرې کول :

ځلور دېرشمه ماده :

(۱) که چېرې د يوې جزائي قضيې د څېړنې د واک په هکله د دوو محکمو تر منځ چې د استيناف د محکمې په قضايي حوزه کې قرار لري ، اختلاف رامنځته شي ، د اختلاف حل او د واکمنې محکمې تشخيص ، داستيناف محکمې د رئيس تر اثر لاندې د دېوانونو له رئيسانو څخه د جوړ هيئت په واسطه صورت مومي .

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کې د ترتوقيف لاندې تورن د برخليک ټاکل د استيناف محکمې واک دی .

د فيصلو او قرارونو قطعيت :

پنځه دېرشمه ماده :

د استيناف محکمو فيصلې او قرارونه ، په واک کې په ټولو شاملو قضيو کې قطعي دي .

رفع اختلافات صلاحيت قضائی :

مادۀ سی و چهارم :

(۱) هرگاه در مورد صلاحيت رسيدگی يک قضيۀ جزائی بين دو محکمه که در حوزۀ قضائی محکمۀ استيناف قرار دارند، اختلاف بروز نمايد ، حل اختلاف و تشخيص محکمۀ ذيصلاح توسط هيئتی مرکب از رؤسای ديوان ها ، تحت اثر رئيس محکمۀ استيناف صورت می گيرد.

(۲) تعيين سرنوشت متهم تحت توقيف درحالت مندرج فقرۀ (۱) اين ماده از صلاحيت محکمۀ استيناف ميباشد.

قطعيت فيصله ها وقرار ها:

مادۀ سی و پنجم :

فيصله ها و قرار های محاکم استيناف در تمام قضايای شامل صلاحيت قطعی ميباشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د استیناف محکمې د رئیس دندې او واکونه :**

**شپږ دېرشمه ماده :**

د استیناف محکمې رئیس د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی :

۱- د اړوندو محکمو او دېوانونو د فعالیتونو لارښودنه او تنظیمول .

۲- عندالاقتضاء د دېوانونو د قضایي غونډو ریاست .

۳- د یوۀ دېوان د غړي بل دېوان ته مؤقت توظیفول .

۴- د اړتیا په صورت کې د استیناف محکمې له قاضیانو څخه ابتدائیه محکمو ته د یوۀ قاضي توظیفول .

۵- عندالاقتضاء له یوۀ دېوان څخه بل دېوان ته د قضیې د څېړنې د واک سپارل .

۶- د اړوندو دیوانونو د قضایي تجربو توحیدول .

**وظایف وصلاحیت های رئیس محکمۀ استیناف:**

**مادۀ سی و ششم :**

رئیس محکمۀ استیناف دارای وظایف وصلاحیت های آتی میباشد:

۱- رهبری وتنظیم فعالیت محاکم ودیوان های مربوط.

۲- ریاست جلسات قضایی دیوان ها عندالاقتضاء.

۳- توظیف مؤقت عضو یک دیوان به دیوان دیگر .

۴- توظیف یکی از قضات محکمۀ استیناف به محاکم ابتدائیه در صورت ضرورت.

۵- تفویض صلاحیت رسیدگی قضیه ازیک دیوان به دیوان دیگرعندالاقتضاء.

۶- توحید تجارب قضائی دیوانهای مربوط .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- ستري محکمې ته د محکمو او اړوندو دېوانونو له فعالیت څخه رپوټ ورکول .

د غونډو لارښودنه :

اووه دېرشمه ماده :

د استیناف محکمې د دېوانونو رئیسان د اړوندو دېوانونو د غونډو لارښودنه کوي . په هغهٔ صورت کې چې د استیناف محکمې رئیس د دېوان د قضایي غونډې لارښودنه وکړي ، پدې حالت کې د دېوان رئیس د اړوند دېوان غړی ګڼل کېږي .

مسؤولیت :

اته دېرشمه ماده :

د استیناف محکمې رئیس د دېوانونو رئیسان او قاضیان یې د خپلو صادره فیصلو او قرارونو له کیفیت ، د قضیو د څېړنې له مودې ، د قانون د تطبیق له صحت او مدلل والي څخه مسؤولیت لري .

۷- ارائه گزارش از فعالیت محاکم و دیوان های مربوط به ستره محکمه.

رهبری جلسات:

مادهٔ سی و هفتم :

رؤسای دیوان های محکمهٔ استیناف جلسهٔ دیوان های مربوطه را رهبری می نمایند. در صورتیکه رئیس محکمهٔ استیناف ، جلسهٔ قضائی دیوان را رهبری نماید ، درین حالت رئیس دیوان ، عضوء دیوان مربوط پنداشته میشود .

مسؤولیت :

مادهٔ سی و هشتم :

رئیس محکمهٔ استیناف ، رؤسای دیوان ها وقضات آن از کیفیت ، میعاد رسیدگی قضایا، صحت تطبیق قانون و مدلل بودن فیصله ها و قرار های صادرهٔ خویش مسؤولیت دارند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استیناف محکمې څانګې :

نهه دېرشمه ماده :

د استیناف محکمې ریاست او اړوند دېوانونه یې د اداري کارکوونکو او څانګو لرونکي دي چې دندې او د فعالیت ډول یې په جلا لایحو کې تنظیمېږي .

## څلورم فصل

## د ابتدائیه محکمو تشکیل ، ترکیب او واک

تشکیل :

څلوېښتمه ماده :

(۱) د استیناف محکمې په اړونده قضايي حوزه کې په لاندې ترتیب سره د ابتدائیه محکمو لرونکې دي :

۱-دولایت دمرکزابتدائیه محکمه .

شعبات محکمهٔ استیناف:

مادهٔ سی و نهم :

ریاست محکمهٔ استیناف و دیوان های مربوط دارای کارکنان و شعبات اداری میباشند که وظایف و طرز فعالیت شان در لوایح جدا گانه تنظیم می گردد.

## فصل چهارم

## تشکیل، ترکیب وصلاحیت محاکم ابتدائیه

تشکیل:

مادهٔ چهلم :

(۱) محاکم استیناف در حوزهٔ قضائی مربوط دارای محاکم ابتدائیه به ترتیب آتی می باشند:

۱- محکمه ابتدائیه مرکز ولایت .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د اطفالو محکمه .

۳- سوداګریزه ( تجارتي ) ابتدائیه محکمه .

۴- د ولسوالۍ ابتدائیه محکمه .

۵- د شخصیه احوالو ابتدائیه محکمه .

(۲) د هغو ولایتونو په مرکزونو کې چې زیاتو ابتدائیه محکمو ته اړتیا ولیدله شي ، ستره محکمه کولای شي د جمهور رئیس له منظورۍ وروسته د هغو په جوړولو لاس پورې کړي .

د ابتدائیه محکمو جوړښت :

یو څلویښتمه ماده :

(۱) د ولایتونو د مرکزونو ابتدائیه محکمې د لاندې دیوانونو لرونکې دي :

۱- د عمومي جزاء دیوان .

۲- مدني دیوان .

۳- د عامه حقوقو دیوان .

۴- د عامه امنیت دیوان .

۲- محکمۀ اطفال.

۳- محکمۀ ابتدائیه تجارتی.

۴- محکمۀ ابتدائیه ولسوالی.

۵- محکمۀ ابتدائیه احوال شخصیه .

(۲) در مراکز ولایاتیکه به محاکم ابتدائیۀ بیشتری ضرورت احساس شود ، ستره محکمه میتواند بعد از منظوری رئیس جمهور به تأسیس آن اقدام نماید.

ترکیب محاکم ابتدائیه:

مادۀ چهل و یکم :

(۱) محاکم ابتدائیه مراکز ولایات دارای دیوان های ذیل میباشند:

۱- دیوان جزای عمومی.

۲- دیوان مدنی .

۳- دیوان حقوق عامه.

۴- دیوان امنیت عامه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- د ترافيكي جرمونو دېوان .

(۲) د مركز د ابتدائيه محكمې ديوانونه له رئيس او حد اكثر څلورو غړو څخه جوړ دي .

د ابتدائيه محكمو د دېوانونو په واسطه د قضيو څېړنه :

دوه څلوېښتمه ماده :

د ولايتونو د مركزونو ابتدائيه محكمې په ابتدايي پړاوكې د اړوندو دېوانونو په واسطه لاندې قضيې د قانون د حكمونو مطابق څېړي :

۱- په عمومي جزاء پورې د اړوندو قضيو څېړنه د عمومي جزاء د دېوان په واسطه .

۲- د حقيقي اشخاصو تر منځ د مدني دعواوو څېړنه د مدني دېوان په واسطه .

۳- د حقيقي او حكمي اشخاصو يا د حكمي اشخاصو تر منځ د متنازع فيه مدني قضيو څېړنه د عامه حقوقو د دېوان په واسطه .

۵- ديوان جرايم ترافيكي.

(۲) ديوان هاى محكمهٔ ابتدائيه مركز مركب از رئيس و حد اكثر چهار عضو ميباشد .

رسيدگى قضايا توسط ديوانهاى محاكم ابتدائيه :

مادهٔ چهل و دوم :

محاكم ابتدائيه مراكز ولايات قضاياى ذيل را توسط ديوانهاى مربوط در مرحلهٔ ابتدائى طبق احكام قانون رسيدگى مى نمايد :

۱- رسيدگى قضاياى مربوط به جزاى عمومى توسط ديوان جزاى عمومى .

۲- رسيدگى به دعاوى مدنى بين اشخاص حقيقى توسط ديوان مدنى .

۳- رسيدگى قضاياى مدنى متنازع فيه بين اشخاص حقيقى و حكمى يا بين اشخاص حكمى توسط ديوان حقوق عامه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴– په امنيت او عامه ګټــو ، د مخدرو موادو په قاچاقو او نــورو جرمونو پورې د اړونـــدو جزايـــي قضيو څېړنه د عامه امنيت د دېوان په واسطه .

۵– په ترافيکي پېــښو پــورې د اړوندو قضيو څېړنــه د ترافيکـــي جرمونو د دېوان په واسطه .

د محکمې اودېوانونو لارښودنه:

دري څلوېښتمه ماده :

(۱) د ولايت د مرکز د ابتدائيـــه محکمې په سر کې رئيس قرار لري چې د دېوانونو د قضايي او اداري فعاليتونو لارښودنه او تنظيمول پـــه غاړه لري او عنداللزوم د هغو پـــه غونډو کې ګډون کوي .

(۲) د ابتدائيه محکمې د دېوانونو رئيسان ، د اړونـــدو دېوانونـــو د غونډو لارښودنه کوي . پـــه هغـــهٔ صورت کې چې د ابتدائيه محکمې رئيس د دېوان د قضايي غونـــډې لارښودنه وکړي ، پدې حالت کې

۴– رسيدگی قضايای جزائی مربوط به امنيت و منفعت عامه ، قاچـــاق مواد مخدر و ساير جرايم مطـــابق احکام قانون توسط ديوان امنيـــت عامه .

۵– رسيدگی قضايای جزائی مربوط به حادثات ترافيکی توسط ديـــوان جرايم ترافيکی .

رهبری محکمه و ديوانها:

مادهٔ چهل وسوم:

(۱) در رأس محکمهٔ ابتدائيهٔ مرکز ولايت رئيس قرار دارد که رهبری وتنظيم فعاليت های قضائی واداری ديوانها را بـــه عهـــده داشـــته و عنداللزوم در جلسات آنها شرکت می نمايد.

(۲) رؤسای ديوانهـــای محکمـــهٔ ابتدائيـــه جلـــسات ديوانهـــای مربوط را رهبری مـــی نماينـــد . در صورتيکه رئيس محکمهٔ ابتدائيه، جلسهٔ قضائی ديـــوان را رهبـــری نمايد ، درين حالت رئيس ديوان ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ديوان رئيس د اړوند ديوان غړی ګڼل کېږي .

(۳) د عمومي جزاء د ديوان رئيس په عين حال کې د مرکز د ابتدائيه محکمې د رئيس مرستيال دی .

د اطفالو محکمه :

څلور څلوېښتمه ماده :

(۱) د هر ولايت په مرکز کې د اطفالو يوه ابتدائيه محکمه جوړېږي .

(۲) د اطفالو ابتدائيه محکمه له رئيس او څلورو غړو څخه متشکله ده .

په هغهٔ صورت کې چې رئيس د ځينو علتونو له امله غايب وي ، دندې او واکونه يې يوهٔ غړي ته چې د زياتې قضايي سابقې لرونکی وي ، سپارل کېږي .

(۳) د اطفالو د سر غړونو د څېړنې ډول د خاص قانون په واسطه تنظيمېږي .

عضو ديوان مربوط پنداشته ميشود .

(۳) رئيس ديوان جزای عمومی در عين حال معاون رئيس محکمه ابتدائيه مرکز ميباشد .

محکمهٔ اطفال:

مادهٔ چهل و چهارم :

(۱) در مرکز هر ولايت يک محکمهٔ ابتدائيه اطفال ايجاد می گردد.

(۲) محکمهٔ ابتدائيهٔ اطفال متشکل از رئيس و چهار عضو می باشد.

در صورتيکه رئيس بنابر عللی غايب باشد ، وظايف و صلاحيت های وی به يکی از اعضای که دارای سابقهٔ بيشتر قضائی باشد، تفويض می گردد.

(۳) طرز رسيدگی به تخلفات اطفال توسط قانون خاص تنظيم می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوداګریزه (تجارتي) ابتدائيه محکمه :

پنځه څلویښتمه ماده :

(۱) د هر ولايت په مرکز کې يوه تجارتي ابتدائيه محکمه جوړيږي . سوداګریزه محکمه له رئيس او څلورو غړو څخه مرکبه ده .

(۲) د هغو ولايتونو په مرکزونو کې چې سوداګریزه ابتدائيه محکمه موجوده نه وي ، د سوداګریزو قضيو څېړنه ، د اړوند ولايت د مرکز د ابتدائيه محکمې د مدني ديوان واک دی .

د اختصاصي قضيو څېړنه :

شپږ څلویښتمه ماده :

د سوداګریزو ، عامه حقوقو او عامه امنيت د قضيو څیړل د استيناف محکمې په قضائي حوزه کې ، د مورد له مخې په سوداګریزه ابتدائيه محکمه او د

محکمهٔ ابتدائيه تجارتی:

مادهٔ چهل و پنجم :

(۱) در مرکز هر ولايت يک محکمهٔ ابتدائيه تجارتی ايجاد می گردد. محکمهٔ تجارتی مرکب از رئيس وچهار عضو ميباشد.

(۲) در مراکز ولاياتيکه محکمهٔ ابتدائيه تجارتی موجود نباشد ، رسيدگی به قضايای تجارتی از صلاحيت ديوان مدنی محکمهٔ ابتدائيه مرکز ولايت می باشد.

رسيدگی به قضايای اختصاصی:

مادهٔ چهل و ششم :

رسيدگی به قضايای تجارتی، حقوق عامه و امنيت عامه در داخل حوزهٔ قضائی محکمهٔ استيناف بر حسب مورد در محکمهٔ ابتدائيهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولایت د مرکزد ابتدائیه محکمې په اړوندو دېوانونو کې صورت مومي .

د ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې ترکیب :

اووه څلوېښتمه ماده :

(۱) د ولسوالۍ ابتدائیه محکمه له رئیس او دوو غړو څخه مرکبه ده ، په هغو ولسوالیو کې چې غړي موجود نه وي ، د قضیو څېړل له دریو تنو څخه د لږو قاضیانو په واسطه صورت موندلی شي .

(۲) د ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې په سر کې رئیس قرار لري ، په هغهٔ صورت کې چې رئیس د ځینو علتونو له امله غایب وي ، دندې او واکونه یې د یوهٔ غړي لخوا چې د زیاتې قضایي سابقې لرونکی وي ، اعمالېږي .

تجارتی و دیوان های مربوط محکمهٔ ابتدائیه مرکز ولایت صورت می گیرد.

ترکیب محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی:

مادهٔ چهل و هفتم :

(۱) محکمهٔ ابتدا ئیهٔ ولسوالی مرکب از رئیس و دو عضو میباشد. در ولسوالی های که اعضاء موجود نباشد، رسیدگی به قضایا توسط کمتر از سه نفر قاضی صورت گرفته میتواند.

(۲) در راٴس محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی رئیس قرار دارد ، درصورتیکه رئیس بنابر عللی غایب باشد، وظایف و صلاحیت های وی از طرف یکی از اعضای که دارای سابقهٔ بیشتر قضائی باشد، اعمال می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې واک**

**اته څلويښتمه ماده :**

د ولسوالۍ ابتدائيه محکمه ټولې عادي جزايي ، مدني اود شخصيه احوالو قضيې چې دقانون دحکمونو په رعايتولو سره دهغې په وړاندې اقامه کيږي، په ابتدايي پړاو کې څيړي .

**دمؤقت قاضي توظيفول :**

**نهه څلويښتمه ماده :**

ددې قانون په اته څلويښتمه ماده کې په درج شوي حالت کې، که چيرې محکمه ديوهٔ تن قاضي لرونکې وي يا نور داسې حالات راڅرگند شي چې دمؤقت قاضي د توظيفولو غوښتنه وکړي، داستيناف محکمې رئيس واک لري چې داستيناف محکمې له قاضيانو څخه يوېې مؤقتاً توظيف کړي .

**صلاحيت محکمهٔ ابتدائيهٔ ولسوالی :**

**مادهٔ چهل و هشتم :**

محکمهٔ ابتدائيهٔ ولسوالی تمام قضايای جزائی عادی ، مدنی و احوال شخصيه را که با رعايت احکام قانون در پيشگاه آن اقامه ميگردد ، در مرحلهٔ ابتدائی رسيدگی می نمايد .

**توظيف قاضی مؤقت:**

**مادهٔ چهل و نهم :**

در حالت مندرج مادهٔ چهل و هشتم اين قانون هرگاه محکمه دارای يک نفرقاضی باشد ، يا حالات ديگری ظهور کند که ايجاب توظيف قاضی مؤقت را نمايد، رئيس محکمهٔ استيناف صلاحيت دارد که يکی از قضات محکمهٔ استيناف را مؤقتاً توظيف نمايد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## داړینو دېوانونو جوړول :

**پنځوسمه ماده :**

(۱) ستره محکمه کولای شي داړتیا په صورت کې دجمهور رئیس له منظورۍ وروسته د ولایتونو دمرکزونو د ابتدائیه محکمو په چوکاټ کې نور دېوانونه جوړ کړي.

(۲) ستره محکمه کولای شي عندالضرورت دجمهور رئیس له منظورۍ وروسته، دولسوالیو دابتدائیه محکمو په چوکاټ کې دېوانونه جوړ کړي .

## دځوګونو(متعددو) جرمونو دڅېړنې ډول :

**یو پنځوسمه ماده :**

(۱) تورن په هغې محکمې کې محاکمه کېږي چې ددې قانون او نورو قوانینودحکمونومطابق دهغو دڅېړنې واک لري. په هغهٔ صورت کې چې شخص دځوګونوجرمونو

## ایجاد دیوان های ضروری :

**مادهٔ پنجاهم :**

(۱) ستره محکمه می تواند عندالضرورت دیوان های دیگری را در چوکات محاکم ابتدائیهٔ مراکز ولایات بعد از منظوری رئیس جمهور ایجاد نماید.

(۲) ستره محکمه می تواند عندالضرورت دیوانهای را در چوکات محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی ها بعد از منظوری رئیس جمهور ایجاد نماید.

## طرز رسیدگی جرایم متعدد:

**مادهٔ پنجاه و یکم :**

(۱) متهم در محکمهٔ محاکمه می شود که مطابق به احکام این قانون وسایر قوانین صلاحیت رسیدگی آنرا دارد. در صورتیکه شخص مرتکب جرایم متعددی گردد که از

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرتکب شي چې دواک له نظــره دجلا محکمو تابع وي،دهغوڅېړنه په هغې محکمې کې صورت مومي چې د ډېرسخت (شدیدترین) جرم د څېړنې واک لري.په هغهٔ صــورت کې چې ارتکابي جرمونه د مجازاتو له مخې په يوه درجه کــې وي ، د څېړنې واک هغه محکمه لري چې پر تورن باندې د واردو شوو تورونو څېړنه يې پيل کړېده .

(۲) که چېرې يو شخص د څوګونو جرمونو مرتکب شي چې د واک له نظره د دوو( اختصاصي او عمومي) محکمو تابع وي ، د جرم د ماهيت په اعتبار ، هره يوه اړونده محکمه د هغو د څېړنې د واک لرونکې ده . په هغهٔ صورت کې چې ارتکــابي جرمونه د هغو څوګونو جرمونو له ډول څخه وي چې د تجزيې وړنــه وي ، د هغو څېړنه د هغې محکمې واک دی چې د شــديد جــرم د څېړنې واک لري .

حيث صـــلاحيت تـــابع محـــاکم جداگانه باشد، رسيدگی بـــه آن در محکمهٔ صورت مـــی گيـــرد کـــه صلاحيت رسيدگی شديدترين جرم را دارد. در صــــورتيکه جــــرايم ارتکابی از لحاظ مجازات در يک درجه باشد، صلاحيت رسيدگی را محکمهٔ داردکــه رســيدگی بــه اتهامات وارده بر مـــتهم را آغـــاز کرده است .

(۲) هرگاه شخصی مرتکب جرايم متعـــددی گـــردد کـــه از حيـــث صــــلاحيت تــــابع دو محکمـــــه (اختــــصاصی وعمـــومی) باشـــد، صلاحيت رسيدگی آن را به اعتبار ماهيت جرم هر يـــک از محـــاکم مربوط دارا می باشد ، در صورتيکه جرايم ارتکـــابی از نـــوع جـــرايم متعددی بوده که قابل تجزيه نباشد، رسيدگی به آن از صلاحيت محکمهٔ می باشد که صلاحيت رسيدگی به جرم شديد تر را دارد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) دجرم شريكان او مرستيالان په هغې محكمې كې محاكمه كيږي چې دجرم اصلي فاعل په هغې كې محاكمه كيږي .

مسؤوليت :

دوه پنځوسمه ماده :

دابتدائيه محكمې رئيس،ددېوانونو رئيسان او دهغو قضايي غړي دقضيو له كيفيت،دڅېړنې دمودې ، دقانون دتطبيق له سموالي(صحت)او دځپلو صادره فيصلواو قرارونو له مدلل والي څخه مسؤليت لري .

دفيصلې قطعيت :

دري پنځوسمه ماده :

دابتدائيه محكمو صادره حكمونه ، په لاندې مواردو كې قطعي دي :

۱–په صادره حكم باندې ددعوي د اړخونو قناعت .

۲–داستيناف غوښتنې دمودې تېرېدل (انقضاء) .

(۳) شركاء و معاونين جرم در محكمهٔ محاكمه مى شوند كه فاعل اصلى جرم در آن محاكمه مى شود .

مسؤوليت :

مادهٔ پنجاه و دوم :

رئيس محكمه ابتدائيه، رؤساى ديوانها واعضاى قضائى آن از كيفيت، ميعاد رسيدگى قضايا، صحت تطبيق قانون ومدلل بودن فيصله ها وقرار هاى صادرهٔ خويش مسؤوليت دارند.

قطعيت فيصله :

مادهٔ پنجاه و سوم :

احكام صادرهٔ محاكم ابتدائيه در موارد آتى قطعى ميباشد:

۱– قناعت طرفين دعوى به حكم صادره.

۲– انقضاى ميعاد استيناف طلبى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- په هغهٔ صورت کې چې دمدعي بها ارزښت تر سلو زرو افغانيو پورې وي .

۴- تر پنځوسو زرو افغانيو پورې په نقدي مجازاتو باندې حکم .

۵-نور هغه موارد چې په قوانينو کې اټکل شوي دي .

ادارى څانگې :

څلور پنځوسمه ماده :

ابتدائيه محکمې داداري څانگو او کارکوونکو لرونکې دي چې دندې اودفعاليت ډول يې په جلا لايحو کې تنظيمېږي .

دسندونو اووثايقو دثبت ادارې :

پنځه پنځوسمه ماده :

(۱) داستيناف دهرې محکمې په قضايي حوزه کې دسندونو اووثايقو دثبت اداره جوړېږي .

۳- در صورتيکه ارزش مدعى بها الى يکصد هزار افغانى باشد .

۴- حکم به مجازات نقدى الى پنجاه هزار افغانى.

۵- ساير مواردى که در قوانين پيشبينى گرديده است.

شعبات ادارى:

مادهٔ پنجاه و چهارم :

محاکم ابتدائيه داراى کارکنان و شعبات ادارى بوده که وظايف وطرز فعاليت آنها در لوايح جداگانه تنظيم مى گردد.

ادارات ثبت اسناد و وثايق:

مادهٔ پنجاه و پنجم :

(۱) درحوزهٔ قضائى هر محکمهٔ استيناف ادارهٔ ثبت اسناد ووثايق ايجاد مى گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسندونو اووثايقو دثبت دادارو په سرکې رئيس قرار لري چې دادارې دفعاليتونو لاربنوونه او تنظيم په غاړه لري .

در رأس ادارات ثبت اسناد ووثايق رئيس قرار داشته که رهبری وتنظيم فعاليت های اداره را به عهده دارد.

(۲)دسندونو اووثايقو دثبت دادارو رئيس اومسلکي غړي دهغو اشخاصو له جملې څخه چې قضايي واک لري ، ټاکل کيږي .

(۲) رئيس و اعضای مسلکی ادارات ثبت اسناد و وثايق از جملۀ اشخاصی که صلاحيت قضائی دارند ، تعيين ميگردند .

(۳)په هغو ولسواليو کې چې دسندونواووثايقودثبت ادارې جوړې شوې ندي،دولسواليو محکمې داړوندو واکونو لرونکې دي .

(۳) در ولسوالی های که ادارات ثبت اسناد ووثايق ايجاد نگرديده است، صلاحيت های مربوطه را محاکم ولسوالی ها دارا ميباشند.

(۴)دسندونو او وثايقو دثبت دادارو دندې اوواکونه دخاص قانون مطابق تنظيميږي .

(۴) وظايف و صلاحيت های ادارات ثبت اسناد و وثايق طبق قانون خاص تنظيم ميگردد .

## د سوداگريزو (تجارتي) سندونو او علايمو ثبتول :

### شپږ پنځوسمه ماده :

دسودا گريزو سندونو او علايمو ثبتول دسوداگريزو ابتدائيه محکمو واک دی.

## ثبت اسناد وعلايم تجارتی

### مادۀ پنجاه و ششم :

ثبت اسناد وعلايم تجارتی از صلاحيت محاکم ابتدائيه تجارتی ميباشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریوټ ورکول :

اووه پنځوسمه ماده :

دابتدائیه محکمـو اودسـندونو او وثایقو دثبت د ادارو رئیسان مکلف دي چې له خپلو اجراآتـو څخـه داستیناف اړوندې محکمې ته رپوټ ورکړي .

ارائه گزارش :

مادهٔ پنجاه و هفتم :

رؤسای محاکم ابتدائیـه و ادارات ثبت اسناد و وثایق مکلف انـد از اجـراآت خـود بـه محکمـهٔ استیناف مربـوط گـزارش ارائـه نمایند .

## پنځم فصل

## د قضائیه قوې په قاضیانو او کارکوونکو پورې اړوندې چارې

## فصل پنجم

## امـور مـربـوط بـه قضـات وکارکنـان قوهٔ قضائیه

دقضاء د انسلاک شرایط :

اته پنځوسمه ماده :

(۱)دلانـدې شـرطونو لرونکـی شخص دسترې محکمې درئیس په وړاندیز اودجمهـور رئـیس پـه منظورۍ د قاضي په توگه منسلک او ټاکل کېږي :

شرائط انسلاک قضاء:

مادهٔ پنجاه و هشتم :

(۱) شخص واجد شرایط ذیل بـه پیشنهاد رئیس سـتره محکمـه و منظوری رئیس جمهور بـه حیـث قاضـی منـسلک و تعیـین می گردد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱–د انسلاک په وخت کې لږترلږهٔ لس کاله دافغانستان داسلامي جمهوریت د تابعیت لرونکی وي .

۲–دواکمنې محکمې دقطعي حکم په موجب،دجنایت یاجنحې په عمدي جرم محکوم شوی نه وي .

۳–دحقوقو یا شرعیاتو له پوهنځیو څخه دلېسانس یا له هغو څخه دلوړ تحصیلي سند او یا ددولت درسمي دیني مدرسو یا دهغو دمعادل تحصیلي سند لرونکی وي .

۴–په ساري ناروغیو یا معیوبیتونو باندې چې ددندې داجراء خنډ شي ، مصاب نه وي .

۵– د قضاء په کادر کې دانسلاک په وخت کې یې پنځه ویشت کلنی سن بشپړ کړی وي .

۶–دقضایي ستاژ دوره یې په بریالیتوب سره تېره کړې وي .

(۲)د دولت د رسمي دیني مدرسو یا د هغو د معادل تحصیلي سند

۱–حین انسلاک حداقل ده سال تابعیت جمهوری اسلامی افغانستان را دارا باشد.

۲– به موجب حکم قطعی محکمه ذیصلاح به جرم جنایت یا جنحهٔ عمدی محکوم نشده باشد.

۳– سند تحصیلی لیسانس از پوهنځی های حقوق یا شرعیات و یا بالاتر از آن و یا سند تحصیلی مدارس دینی رسمی دولت یا معادل آنرا دارا باشد .

۴– مصاب به امراض ساری یا معیوبیتهای که مانع اجرای وظیفه گردد ، نباشد.

۵– حین انسلاک در کادر قضاء سن بیست وپنج سالگی را تکمیل کرده باشد .

۶– دورهٔ ستاژ قضائی را مؤفقانه سپری نموده باشد.

(۲) شخص دارای سند تحصیلی مدارس دینی رسمی دولت و یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرونکی شخص ، د دې مــادې د (۱) فقرې پــه (۱ ، ۲، ۴ ، ۵ او ٦) جزء کې د درج شوو شرطونو له په پام کې نیولو سره د لومړیــو دریو کلونو لپاره د ابتدائیه محکمې د غړي په توګه مقرریدای شي .

(۳) که چېرې د شرایطو لرونکــي داوطلبان د اړتیا له حد څخه زیات وي ، ستره محکمه کولای شــي د داوطلــب د جــذب او شــاملولو لپاره اضافي شرطونه وضع کړي .

سوګند

نهه پنځوسمه ماده :

قاضي د دندې له اشغالولو دمخه د سترې محکمې د رئیس او غړو په مخکې لاندې سوګند پــه ځــای کوي :

(( د لوی اودادګر خدای (ج) پــه نوم سوګند یادوم چــې د قــضاء دنده په بشپړامانت ، ریــښتینولۍ (صــداقت) او نــاپلوۍ ســره

معادل آن بــا رعایــت شــرایط مندرج اجــزای (۱ ، ۲ ، ۴ ، ۵ و ٦) فقــرهٔ (۱) ایــن مــاده برای سه سال اول بحیــث عــضو محکمــهٔ ابتدائیــه مقــرر شــده میتواند .

(۳) هرگاه تعداد داوطلبان واجــد شرایط بیشتر از حد ضرورت باشد، ستره محکمه می توانــد شــرایط اضافی را برای جذب و شــمولیت داوطلب وضع نماید.

سوگند:

مادهٔ پنجاه و نهم :

قاضی قبل از اشــغال وظیفــه در حــضور رئــیس واعــضای ستره محکمه سوگند آتی را به جا می آورد:

((سوگند یــاد مــی کــنم بنــام خداونــد(ج) بــزرگ و داد گــر که وظیفه قضاء را بــا کــمال امانت ، صــداقت وبــی طرفــی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجراء او داسلامي شريعت،دهېواد داساسي قانون او قوانينو د حكمونو درۀ ناوی وكړم او تطبيق يې كړم، د دندې اسرار ساتم، په مستقيم يـــا غيرمستقيم صورت سره په خيانت ، حق تلفۍ ، بې عــدالتۍ ، قـــانون ماتونې(قانون شكنۍ) او د رشـــوت په اخيستلو لاس نه پورې كوم)).

دتحليف متن په لوحه كـــې ليكـــل كېږي، دقاضي له لاسليک وروسته په هغې محكمې كې چې دنده پكې اجراء كوي ، ځړول كېږي.

د قاضيانو مقررېدل اوتبديلېدل :

شپېتمه ماده :

(۱)د اول اوله هغۀ څخه د لوړبست د قاضـــيانو مقررېدل،تبديلېـــدل، ترفيع، د خدمت تمديد ، تقاعد او دهغۀ رفع كول، دموافقې وركول او داستعفي منل ، د سترې محكمې د رئيس د وړانديز پربنسټ اودجمهور رئيس په منظورۍ صورت مومي.

اجراء واحكام شريعت اســـلامی، قانون اساسی وقـــوانين كـــشور را احترام وتطبيـــق نمـــوده، اســـرار وظيفه را حفظ مينمايم، بـــصورت مستقيم يا غيرمستقيم به خيانـــت، حق تلفی، بی عدالتی، قانون شكنی واخـــذ رشـــوت مبـــادرت نمـــی ورزم )) .

متن تحليف در لوحه نوشته شـــده، بعد از امضاء قاضی در محكمۀ كه در آن اجرای وظيفه می نمايـــد ، تعليق ميشود.

تقرر وتبدل قضات:

مادۀ شصتم :

(۱) تقـــرر، تبـــدل، ترفيـــع، تمديـــد خـــدمت، تقاعـــد و رفع آن، اعطای موافقه وقبـــولی استعفای قضات بست اول و بالاتر از آن به اســـاس پيـــشنهاد ســـتره محكمـــه و منظـــوری رئـــيس جمهورصورت می گيرد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲)د دوه یم اوله هغۀ څخه د ټیټ بست د قاضیانو مقررېدل، تبدیلېدل، ترفېع ، دخدمت تمدید، تقاعد او دهغۀ رفع کول، د موافقې ورکول اوداستعفي منل ، دقضائیه قوې د اداري عمومي آمر د وړاندیز پربنسټ او دسترې محکمې په تائید او دهغې د رئیس په منظورۍ صورت مومي.

**د اداري کارکوونکو مقررېدل او تبدیلېدل :**

**یو شپېتمه ماده :**

(۱) د فوق او مافوق رتبې په بست کې د قضائیه قوې د اداري مامورینو اوفوق درجې قراردادي اجیرانو مقررېدل،تبدیلېدل ،ترفېع ، دخدمت تمدید،تقاعد اودهغۀ رفع کېدل، د موافقې ورکول اوداستعفي منل دسترې محکمې د رئیس د وړاندیز پربنسټ اودجمهور رئیس په منظورۍ صورت مومي.

(۲) تقرر، تبدل، ترفیع، تمدید خدمت، تقاعد و رفع آن، اعطای موافقه وقبولی استعفای قضات بست دوم و پایینترازآن به اساس پیشنهاد آمرعمومی اداری قوۀ قضائیه ، تائید ستره محکمه و منظوری رئیس آن صورت می گیرد.

**تقرر وتبدل کارکنان اداری:**

**مادۀ شصت و یکم :**

(۱) تقرر، تبدل، ترفیع، تمدید خدمت ، تقاعد ورفع آن ، اعطای موافقه و قبولی استعفای مامورین اداری قوۀ قضائیه در بست فوق و مافوق رتبه واجیران قرار دادی فوق درجه به اساس پیشنهاد رئیس ستره محکمه ومنظوری رئیس جمهور صورت می گیرد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲)د لومړۍ یا له هغې څخه د ټيټې رتبې یا بست د اداري مامورينواو د لومړۍ یا له هغې څخه د ټيټې درجې قراردادي اجيرانومقررېدل، تبديلېدل، ترفيع دخدمت تمديد، تقاعداودهغهٔ رفع،د موافقې ورکول اوداستعفي منل دقضائيه قوې د اداري عمومي آمر په وړاندیز اود سترې محکمې د رئيس په منظورۍ صورت مومي.

د قاضيانو تقاعد:

دوه شپېتمه ماده :

(۱) قاضي په لاندې حالاتو کې متقاعد کېږي او بيا کارته نشي استخدامېدی :

۱- د (۴۰) کاله بالفعل خدمت په پای کې.

۲-کلي دايمي معلوليت او دوامداره ناروغي چې د دندې د اجراء خنډشي.

۳- د (٦۵) کلني سن بشپړول.

(۲) تقرر، تبدل، ترفيع، تمدید خدمت ، تقاعد و رفع آن ، اعطای موافقه و قبولی استعفای مامورین اداری رتبه یا بست اول و اجیران قرار دادی درجه اول ویا پایینتر از آن به پیشنهاد آمر عمومی اداری قوهٔ قضائیه ومنظوری رئیس ستره محکمه صورت می گیرد.

تقاعد قضات:

مادهٔ شصت و دوم :

(۱) قاضی در حالات آتی متقاعد گردیده و دوباره به کار استخدام شده نمی تواند:

۱- در پایان (۴۰) سال خدمت بالفعل.

۲- معلولیت کلی دایمی و مریضی های دوامداریکه مانع اجرا ی وظیفه گردد.

۳- اکمال سن (٦۵) سالگی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- نور هغه حالات چې په تقنيني سندونو کې اټکل شوي دي .

(۲) ستره محکمه کولای شـي د اړتيا په وخت کې د هغو قاضيانو د کار دوام چـې ددې مـادې د(۱) فقرې په ۳ جزء کې د درج شوي تقاعد سن ته رسېدلي دي اود علمي اومسلکي پوهې او تجربو لرونکي وي، تقاعد ته له سوق دمخـه ، د واکمـن مقـام پـه منظـوری حداکثرترلسو کلونو پورې تمديـد کړي.

د کار د دوام منظوري هرکال نوې کيږي.

## د قاضيانو تبديلي :

### دري شپېتمه ماده :

(۱) قاضي له دريو کلونو دمخـه نشي تبديلېدای ، خود هغهٔ په خپله غوښتنه اود مؤجـه دليلونـو پـه وړاندې کولو سره چې د ادارې د قناعت وړ وګرځي .

۴- سایر حالاتيکه در اسناد تقنينی پيش بينی گرديده است.

(۲) ستره محکمه مـی توانـد، هنگـام ضـرورت دوام کـار قضاتی را کـه بـه سـن تقاعـد منـدرج جـزء ۳ فقـرهٔ (۱) این مـاده رسـيده انـد و دارای دانش، تجارب علمی و مـسلکی باشـند، قبـل از سـوق بـه تقاعـد بـه منظـوری مقـام ذیصلاح حداکثر تا ده سال تمديد نمايد.

منظوری دوام کار، هر سال تجديد می شود.

## تبديلی قضات:

### مادهٔ شصت و سوم :

(۱) قاضی قبل از سه سال تبـديل شده نمی تواند ، مگـر بـه اثـر تقاضای خودش و ارائه دلايل مؤجه که طـرف قناعـت اداره واقـع گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) د قاضي تبديلي په عادي توگه، په هرو دريوکالو کې يوځل دکب په مياشت کې صورت مومي او دراتلونکي کال له پيل څخه نافذېږي.

تقدير ليکونه:

څلورشپېتمه ماده :

(۱)دقضائيه قوې قاضيانواواداري کارکوونکو ته لومړی درجه تقدير ليک، دسترې محکمې د رئيس د وړانديز پربنسټ او دجمهور رئيس په منظورۍ او يا مستقيماًد جمهور رئيس لخوا ورکول کېږي.

(۲)د قضائيه قوې قاضيانو او اداري کارکوونکو ته دوه يمه او دريمه درجه تقدير ليک ، ستاين ليک او نقدي مکافات د اداري عمومي آمر د وړانديز پربنسټ او دسترې محکمې د رئيس په منظورۍ او يامستقيماً د سترې محکمې د رئيس لخوا ورکول کېږي.

(۲) تبديلی قاضی طور عادی، هر سه سال يکبار در ماه حوت صورت گرفته و از آغاز سال بعد نافذ می گردد.

تقدير نامه ها:

مادۀ شصت و چهارم :

(۱) تقدير نامۀ درجه اول برای قضات و کارکنان اداری قوه قضائيه به اساس پيشنهاد رئيس ستره محکمه و منظوری رئيس جمهور ويا مستقيماً توسط رئيس جمهور اعطاء می گردد.

(۲) تقدير نامۀ درجه دوم وسوم، تحسين نامه و مکافات نقدی برای قضات وکارکنان اداری قوۀ قضائيه به اساس پيشنهاد آمرعمومی اداری و منظوری رئيس ستره محکمه ويا مستقيماً از طرف رئيس ستره محکمه اعطاء می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د دولت دمامورينو اوکارد قوانينو د حکمونوتطبيقول:**

**پنځه شپېتمه ماده :**

(۱) د قضائيه قوې د قاضيانو او اداري کارکوونکو د مقرريدلو ، تبديلېدلو ، ترفېع ، دخدمت د تمديد، تقاعد او دهغهٔ د رفع کولو، د موافقې د ورکولو د استعفي د منلو،رخصتئ او نورو حقوقو او امتيازونو او مکلفيتونو شرطونه او حالات چې پدې قانون کې نه وي اټکل شوي ، د کار او د دولت د مامورينو د قوانينو او په هغو پورې د نورو اړوندو تقنيني سندونو د حکمونو مطابق ، اجراء کېږي.

(۲) د قاضيانو په ترفېع کې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو تقنيني سندونو په شرطونو برسېره ، دقاضيانو د فيصلو څرنگوالی هم په پام کې نيول کېږي.

**تطبيق احکام قوانين کار و مامورين دولت :**

**مادهٔ شصت و پنجم :**

(۱) شرايط و حالات تقرر، تبدل، ترفيع، تمديد خدمت، تقاعد و رفع آن ، اعطای موافقه ، قبولی استعفاء رخصتی و ساير حقوق، امتيازات و مکلفيت های قضات وکارکنان اداری قوهٔ قضائيه که در اين قانون پيش بينی نگرديده باشد، طبق احکام قوانين کار و مامورين دولت وساير اسناد تقنينی مرتبط به آن اجراء می گردد.

(۲) در ترفيع قضات علاوه بر شرايط اسناد تقنينی مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده ، چگونگی فيصله های قضات نيز در نظر گرفته ميشود .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلکي امتياز :

**شپږ شپېته ماده :**

قاضيانوته د قضائي کادر امتياز ورکول کېږي.دقضاء د کادري درجې دتثبيت ، د ارتقا شرايط او د کادري امتياز د اندازې په ټاکلو پورې اړوندې چارې يې دجلا تقنيني سند مطابق تنظيمېږي.

قضائي کادري امتياز د معاش جزء دی .

امتياز مسلکی:

**مادۀ شصت و ششم :**

برای قضات امتياز کادر قضائی پرداخته ميشود . امور مربوط به تثبيت درجۀ کادری ، شرايط ارتقاء ، وتعيين اندازۀ امتياز کادری طبق سند تقنينی جداگانه تنظيم می گردد.

امتياز کادر قضائی جزء معاش ميباشد .

## شپږم فصل

## د قاضيانو جزايي او تأديبی مسؤوليت

د قاضي توقيفول :

**اووه شپېتمه ماده :**

(۱)قاضي د جمهور رئيس له حکم پرته نيول يا توقيف کېدای نه شي. د مشهود جرم حالات لدې حکم څخه مستثني دي.

## فصل ششم

## مسؤوليت جزائی و تأديبی قضات

توقيف قاضی:

**مادۀ شصت و هفتم :**

(۱) قاضی را نمی توان بدون حکم رئيس جمهور گرفتار و يا توقيف نمود. حالات جرم مشهود از اين حکم مستثنیٰ است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) که چېرې قاضي د جنايت په ارتکاب تورن شي ، ستره محکمه ، داساسي قانون ديوسلو دري دېرشمې مادې مطابق اجراآت کوي .

**د قاضيانو تأديب:**

**اته شپېتمه ماده :**

د قاضيانوتأديبول د خاصې مقررې مطابق چې دسترې محکمې لخوا تصويبېږي ، صورت مومي .

## اووم فصل

## متفرقه حکمونه

**د مستعفي قاضي بيامنل :**

**نهه شپېتمه ماده :**

مستعفي قاضي د قضاء ادارې ته د بيا مراجعې په صورت کې ، داستعفي دوخت په عين رتبه منل کېداى شي. ددې قانون په دوه شپېتمه ماده کې درج شوي حالات لدې حکم څخه مستثني دي.

(۲) هرگاه قاضى به ارتکاب جنايت متهم گردد ، ستره محکمه مطابق حکم مادۀ يکصدو سى و سوم قانون اساسى اجراآت مى دارد.

**تأديب قضات:**

**مادۀ شصت و هشتم :**

تأديب قضات مطابق مقررۀ خاصى که از طرف ستره محکمه تصويب مى شود، صورت مى گيرد.

## فصل هفتم

## احکام متفرقه

**پذيرش مجدد قاضى مستعفى:**

**مادۀ شصت و نهم :**

قاضى مستعفى در صورت مراجعۀ دوباره به ادارۀ قضاء به عين رتبۀ زمان استعفا پذيرفته شده مى تواند. حالات مندرج مادۀ شصت و دوم اين قانون از اين حکم مستثنىٰ است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دقاضيانو جامې :**

**اويايمه ماده :**

**قاضيان مکلف دي دقضاوت په وخت کې په هغو مخصوصو جامو چې په اړونده لايحه کې اټکل شوېدي ، ملبس وي .**

**دپېژندنې (هويت ) کارت:**

**يو اويايمه ماده :**

**قاضيان دپېژندنې د مخصوص کارت لرونکي وي چې شکل او محتوي يې دسترې محکمې لخوا برابر او ټاکل کېږي.**

**د مهر لرل:**

**دوه اويايمه ماده :**

**ستره محکمه ، داستيناف اوابتدائيه محکمې ، دقضائيه قوې اداري عمومي آمريت اودسندونو او وثيقو دثبت اداري هره يوه دمخصوص مهرلرونکې دي.**

**لباس قضات:**

**مادۀ هفتادم :**

**قضات مکلف اند هنگام قضاوت به لباس مخصوصى که در لايحۀ مربوط پيش بينى شده است، ملبس باشند.**

**کارت هويت:**

**مادۀ هفتاد و يکم:**

**قضات داراى کارت هويت مخصوصى مى باشند که شکل ومحتوى آن از طرف ستره محکمه ترتيب وتعيين مى گردد.**

**داشتن مهر:**

**مادۀ هفتاد و دوم :**

**ستره محکمه، محاکم استيناف وابتدائيه، آمريت عمومى ادارى قوۀ قضائيه و ادارات ثبت اسناد ووثايق هر يک داراى مهر مخصوص مى باشند.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د قاضیانو او محکمو امنیت:**

**دري اویایمه ماده :**

(۱) د کورنیو چارو وزارت اونور اړوند مراجع مکلف دي، د قاضیانو اواړوندو دفترونو او دمحکمو د ادارو امنیت تأمین کړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مراجع مکلف دي، دمحکمو قطعي فیصلې او قرارونه تطبیق کړي.

**معاش :**

**څلور اویایمه ماده :**

دسترې محکمې غړي او قضایي مستشاران او د محکمو قاضیان داساسي قانون دیوسلو پنځه پنځوسمې مادې د حکم مطابق ، د مناسب معاش مستحق دي چې اندازه یې په اړوند قانون کې ټاکل کېږي.

**امنیت قضات ومحاکم:**

**مادۀ هفتاد و سوم :**

(۱) وزارت امور داخله و سایر مراجع ذیربط مکلف اند امنیت وحفاظت قضات و دفاتر مربوط و ادارات محاکم را تأمین نمایند.

(۲) مراجع مندرج فقرۀ (۱) این ماده مکلف اند فیصله ها و قرار های قطعی محاکم را تطبیق نمایند .

**معاش:**

**مادۀ هفتاد و چهارم :**

اعضای ستره محکمه و مستشاران قضائی و قضات محاکم مطابق حکم مادۀ یکصد و پنجاه و پنجم قانون اساسی مستحق معاش مناسب بوده که اندازۀ آن در قانون مربوط تعیین می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشتمنی ثبتول:

پنځه اويايمه ماده :

د محکموقاضـيان اودسـندونو او وثيقو دثبت مسؤولين مکلف دي ، ددندې له اشغال څخه دمخه خپله منقوله اوغيرمنقوله شـتمني ثبـت کړي.

اختصاصي خپرونه :

شپږ اويايمه ماده :

(۱) ستره محکمـه داختـصاصي خپرونې لرونکې ده.

(۲) دمحکمـو قطعـي فيـصلې دواحدې قضايي رويې دتعـميم ، تحقيق او تتبع په منظور دسترې محکمې دلزوم ديد له مخې تکثير او خپرېږي

د انفاذ نېټه :

اووه اويايمه ماده :

دغه قانون د توشېح له نېټې څخـه نافذ او په رسمي جريده کـې دې خپـور شي. په نافذېدو سـره يې

ثبت دارائی :

مادۀ هفتاد و پنجم :

قضات محاکم و مسؤولين ثبـت اسـناد و وثـايق مکلـف انـد قبل از اشغال وظيفه دارائی منقول و غيـر منقـول خـويش را ثبـت نمايند .

نشريۀ اختصاصی :

مادۀ هفتاد و ششم :

(۱) ستره محکمـه دارای نـشريۀ اختصاصی ميباشد .

(۲) فيصله های قطعـی محـاکم به منظـور تعمـيم رويـۀ واحـد قضائی ،تحقيق و تتبع طبق لزوم ديد سـتره محکمـه تکثيـر و نـشر ميگردد .

تاريخ انفاذ:

مادۀ هفتاد و هفتم :

ايـن قـانون از تـاريخ توشـيح نافـذ و در جريـدۀ رسـمی نشر گردد. با انفـاذ آن قـانون

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۳۷۰ هـ.ش كال دوري د (۱۱) نېټې په (۷۳۹) گڼه رسمي جريـــده كـــې خپـــور شـــوى دمحكمـــو دتشكيلاتو اوصلاحيت قـــانون او دهغهٔ نور مغاير حكمونه لغوه گڼل كيږي.

تشكيلات وصـــلاحيت محـــاكم منتشرهٔ جريـــدهٔ رســـمى شـــماره (۷۳۹) مؤرخ (۱۱) حمل سال ۱۳۷۰هـ . ش و ســـاير احكـــام مغـــاير آن ملغـــىٰ پنداشـــته ميشود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اشتراك سالانه

در مرکز و ولایات : (۵۰۰) افغانی

برای متعلمین و محصلین با ارائه تصدیق، نصف قیمت

خارج از کشور (۱۵۰) دالر امریکائی

قیمت این شماره : (۵۰) افغانی

نمبر تیلفون دیجیتل : (۲۱۰۳۳۷۵)

تعداد طبع : (۵۰۰۰) جلد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

## OFFICIAL
## GAZETTE

**Law on the structure and competencies of courts of Islamic Republic of Afghanistan**

**Issue: No. 851**

**Date : 21/ May/ 2005**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**